
ښځه په اسلام او
غرب کې
Ketabton.com
لیکوال: نیک محمد بارک

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب نوم : ښځه په اسلام او غرب کې

لیکوال : نیک محمد بارک

کــال : 2019/5/13

کمپوز او کمپیوټري چارې : نیک محمد بارک

ادرس : لوی کندهار

ایمل ادرس: naikbarak786@gmail.com

موبایل: +93702110371

واتسف: +93784422655

فیسبوک : Naik Mohammad Barak

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرستونه

لومړی فصل.................................................................10
د ښځې او نر مساوات د مغربی تهذیب یوه اهمه فتنه..............................10
په اسلام کی د ښځی حیثیت او حقوق.........................................11
د اسلام له ظهور څخه مخکی د ښځی مقام......................................12
ښځه او د جاهلو قومونو نظریات..............................................13
په ښځې باندې د اسلام د دین ښیګڼی..........................................15
د دیني ،دنیوي،انفرادي،اجتماعي،او معاشرتي حقوقو تحفظ.........................17
د ښځې عصمت او ابرو ته احترام..............................................21
د ښځو آزادی د تبرج جاهلیت دوهم نوم دی.......................................22
له آزادۍ څخه د غلامۍ خواته دعوت.............................................23
د اسلام د عفت او عصمت نظام................................................24
د پردې احکام..............................................................25
د حجاب آیت...............................................................28
د بې پردګۍ د حامیانو مغالطه او دوکه بازی.......................................29
په ستر او حجاب کې فرق......................................................29
په خبرو اترو کې احتیاطي تدبیرونه............................................31
په خاص حالت کې دباندې د وتلو اجازه.........................................32
له کور څخه د وتلو شرائط او قیدونه............................................33
یوازې عملي او علمي نه بلکې خیالي او تصوراتي تحدیدات.........................36

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایا پرده بې ځایه حبس دی ؟.......................................................37
د نر او د ښځې دائره کار....................................................38
په کور کې کښیناستل قید نه بلکې راحت او نعمت دی.............................39
پرده نه بلکې بی پردګي د صحت د خرابوالي سبب دی.............................40
نظر بازي د ذهني انتشار او د معاشرې د فساد ذریعه ده.............................41
د تعلیم لپاره بې حجابي.............................................................42
د ماډرن ( جدید یا نوی عصری) د جوړیدو شوقین......................................44
دوهمه فصل.............................................................................46
ښځه په مذهبې کتابونو او د مذهبې علماوو په آند.......................................46
ښځه په یهودیت کې:....................................................................46
د یهودو شرعي قانون وایي:.............................................................47
د یهودو او عیسایانو شرعي او مذهبي علماء د ښځې په هکله وایي:.........47
(St. Jhon Damascene) راهب یوحنا دمشقی:..................................48
(St. Cyprian) راهب قبرصي:...........................................................48
(St. Anthony) راهب انتوني:...........................................................48
(St. Gregory)راهب جریجوري.........................................................48
(St. Augustine) سینټ اګستاین:.....................................................49
د یهودو د سپیڅلي کتاب (تلمود) په آند:.............................................49
ښځه په عیسایت کې.....................................................................51
ښځه په اسلام کې........................................................................54
دریم فصل...............................................................................60

(c) ketabton.com: The Digital Library


په غرب کی د نوی مسلمانو سویو ښځو د اسلام راوړلو کیسی...................60

د (Karima Slack Razi) د اسلام قبلولو کیسه .....................................62

د دوو امریکایي ننې (عیسایي راهبو) د اسلام قبلولو کیسه.......................65

د یوی ارکنساسي خور عابدې د اسلام راوړل:.........................................79

د رپ موزیک د وتلې فرانسوی سندرغاړې (Diams) ډیامز د اسلام قبلول:...84

د نوي مسلماني سوي کاناډايي خور الیزابت د اسلام راوړلو کیسه..............87

دنړۍ مشهوره ژورنالیسته ایون ریډلي څنګه مسلمانه شوه؟ ....................97

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال خبری

الحمدالله رب العالمین والصلوت والسلام علی سیدالانبیاء والمرسلین وعلی آله و اصحابه اجمعین.

د پاک او لایزال خدای جل جلاله زیات شکر ادا کوم چی ماته یی ددی توفیق راکړیدی چی زه د خپلو دینی مقدساتو خدمت څه ناڅه وکم.

سید جمال الدین افغان رحمت الله علیه ویلی دی کفری هیوادو ته ولاړم مسلمانان لږ وه خو اسلام زیات وو مسلمانی ملکو ته ولاړم مسلمانان ډیر وه خو اسلام کم وو پکښې.

غربیان او کفری نړی تل دا کوښښ کوی چی څرنګه اسلام او مسلمانان بدنامه کړی مسلمانانو ته رکم په رکم توطئې او دامونه په کار اچوی چی څرنګه مسلمانان د خپل دین او مذهب څخه لیری کړی کله چی دوی مسلمانان د خپل دین څخه لیری کړی نو بیا په ډیری اسانی سره کولای سی چی خپل ټول کفری اوامر پری عملی کړی او تر خپل تسلت لاندی یی راولی په تیرو زمانو کی کفار هیڅکله هم پر مسلمانانو نه وه بریالی سوی د هغه وخت د نړی تر ټولو ستر طاقتور پوځ وغوښتل چی پر مسلمانانو حمله وکړی په داسی حال کی چی دوی پر کوم ځای حمله کول د هغه ځای مسلمانان نسبتاً ډیر کم وه دوی دا فکر کاوه چی تر ننه مسلمانان نه دی ناکام سوی نن به یی ناکام کړو کله چی دوی پر مسلمانانو حمله وکړه نود مسلمانانو هغی کوچنی ډلی ددوی ستر پوځ ور تار ومار کړ او پاچا

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی ونیول سوو او بندیخانی ته واستول سوو پاچا به هر ورځ د بندیخانی ښځه د مسلمانانو کردارونه څارل ولیدل چی مسلمانان څومره مذهبی او څومره د خپل دین قدر لری ددوی دا مذهبیتوب دوی طاقتور او په سوپر طاقت اړولی دی څو ورځی بعد مسلمانانو همدا د کفارو پاچاد ښځه فدیی په بدل کی ایله  کړ کله چی هغه بیرته خپل هیواد ته راستون نو خپلو درباریانو ته یی وویل چی پر مسلمانانو د بریالی کیدو یوه لار سته هغه دا چی دوی باید د خپل مذهب ښځه په یو رکم لیری کړو ځکه ددوی ټینګی عقیدی او مذهب دوی کامیابه کړیدی او سوپر طاقت یی ځنی جوړ کړیدی بیا یی د درباریانو ښځه وپوښتل چی باید دوی څرنګه د خپل دین ښځه لیری کړو هغوی زیات نظرونه وړاندی کړل خو د پاچا یو نظر ډیر خوښ سو هغه دا چی مسلمانانو ته باید ښځی ور مخته کړو او د هغوی ښځی را وپاروو  چی تاسو هم د دباندی وتلو د تعلیم د کار ..... د کولو حق لری. کله چی دوی همدا پلان عملی کړ نو په ډیری اسانی سره یی مسلمانان دړی وړی کړل تر ننه پوری دوی همدا پلانونه عملی کوی او ټوله اسلامی ملکونه یی تر خپل واک لاندی راوستلی دی.

ځنی مسلمانانی خویندی دا فکر کوی چی اسلام موږ ته هیڅ حق نه دی راکړی که دوی لږ هم فکر وکی چی اسلام دوی ته دونه حق ورکړیدی چی د غربی حقوقو د صفری نقطی سره هم نه دی برابر نو بیا به هیڅکله دا ونه وایی اسلام  نر امر کړیدی چی په هر رکم وی دی باید د خپلی میرمنی هر روا خواهیش ور پوره کی په داسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

حال چې غربي نړۍ کې خاوند و میرمنی ته وایي چې ته دې ځانته نفقه برابروه زه یې ځانته برابروم.

اسلام وایي چې جنت د مور تر پښو لاندې دی یعني تاسو یې د مړینې تر وخته خدمت کوی خو په په غربي نړۍ کې چې کله مور و پلار د بوډاتوب حالت ته ورسیږي نو دې یې د (Old House) په نامه یو ځای ته استوی چې خاص د همدې لپاره جوړ سویدی چې بوډاګان ورته راولي همدلته د مرګ تر وخته داسې شپې و ورځې سبا کوی لکه په بندیخانه کې......

چې مسلمانانې خویندې خپل اسلامي حقوق وپیژني او بیا د غرب د وحشانه حقوقو غوښتنه ونه کړي نو مې دا لیکنه شروع کړه هیله ده چې زما دا لیکنه به د یوې مسلمانې خور د اصلاح سبب ورګرځي غوښتل مې چې دا کتاب د یوې خیروندیه ټولنې له لخوا چاپ کړل سي خو کله چې به هغو زما کم عمر ته وکتل نو دیته به یې زړه نه ښه کوی چې زما دا کتاب دې چاپ کړي نو مجبوره سوم چې د انلاین لارې یې تر تاسو در ورسوم.

په درنښت:

نیک محمد بارک

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړی فصل

اسلام د ژوند یو مکمله او اکمله پوره ضابطه ده په اسلام کی د هر چا د حقوقو پاملرنه سویده که هغه نر دی او که ښځه. او اسلام په ځانګړی توګه ښځو ته د هغو حقوق ورکړی چی مخکی له اسلام څخه دا حقوق چا نه وو ورکړی لیکن ددی ترڅنګ یی هغو ته د پردی او حجاب حکم ورکړ کوم چی د فطرت موافق دی لیکن په ننني زمانی کی اروپا او امریکا لکه څرنګه چی په نورو کارونو کی هم د فطرت په خلاف کارونه مخته بیایی همدا ډول د ښځو د حقوقو په باره کی هم ښځو ته د غیر فطری د آزادی او بې حیایي د عام کولو لپاره کوښښ کوی. په داسی حال کې چی ځینی تش په نامه مسلمانان هم د اروپا او امریکا له ذهنی غلامی څخه متاثر سویدی او له هغو سره په شریکه دا نظریه عاموی او خپروی یی.

د اروپا غلامی چی کله د عالم اسلام ذهن ، فکر ، تهذیب ، او اخلاق لاندی کړل او کوم دینی ، علمی ، او اخلاقی فتنو چی په اسلامی تهذیب او معاشری باندی حمله وکړه

### د ښځې او نر مساوات د مغربی تهذیب یوه اهمه فتنه

په دي کی له ټولو نه مخکی د ښځو د آزادیَ تحریک او د سړی او ښځی مساوات یوه اهمه فتنه جوړه سوه. د اسلام د ستر او حجاب نظام او د ښځو مقدس او محترم مقام او مرتبه او په دی باندی مبني یو پاک کورنی نظام د کښته پورته کولو لپاره د اروپا مستشرقینو او لا دینو مصنفینو او زمونږ هغه خلک چی د اروپا تابع او د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر قانون حق بولي ، تش په نامه مصلحینو او ترقی خوښونکو دي نظام لره د خندا وړ جوړ کړ او په مسلمانانو کی له مغرب څخه د متاثر ســوی ذهنونو لرونکو کله چی په تعداد د ازواجو (میرمنو) باندی مسخره کوي او کله د مسلمانو ښځو د قید او بند ماتم شروع کوی او همدا رنګه دغو ښــځو لره ډیری مظلومی او د رحم وړ ګرځوي. د بر صــغیر د غلامۍ له زمانی څخه تر ننه پوری ډول ډول آوازونه پورته کوي.

## په اسلام کی د ښځی حیثیت او حقوق

په اصولي توګه لومړی باید موږ وګورو چی آیا په رښتیا هم په اسلام کی د ښځې حیثیت او حقوق مبهم پریښي دي. او آیا واقعی اسلام ښځی ته جائز مقام نه دی ورکړی او دا چی په دی باره کی د اسلام د دوښمنانو تبلیغات واقعی صحیح دي؟ په دي باندې به مو موږ په تاریخ باندی سرسری نظر اچوو. په دی باره کی د عربو او عجمو قومونو او دینونو د تاریخ یو ادنی طالب علم هم دې نتیجی ته رسیدلی سی چی اسلام د فطرت او رحمت هغه دین دی چی ښځو ته ئی له تحت الثراء څخه اوج ته ورسوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اسلام له ظهور څخه مخکی د ښځی مقام

د اسلام له ظهور څخه مخکی د ټولی دنیا قومونو او ملتونو او انسانی رسمونو او رواجونو کی ښځی چي په کوم ظلم ،ستم او سپکاویو کی مبتلا وی هغی زمانی لره قران کریم په یوه اعجازی لفظ "جاهلیت اولٰی " باندی تعبیر کړی ده.

دا جاهلیت څه شی وو ؟ تاریخ شاهد دی چی ښځی به د یوه مالی شی په توګه ګڼل کیدلی او د څناورو غوندي به اخیستل او خرڅول کیدلی. هغوی د یوه شی مالکانی هم نه وی او نه هغوی پخپلو مالونو او اسبابونو کی د نارینوو له خوښی پرته تصرف کولای سوای. او نه هغوی د چا د وراثت حقدارانی وېِ او نه هغوی د کوم ډول د وصیت کولو حق درلود. د هغوی د قتل په صورت کی په دیت او قصاص کی هغوی له نارینوو سره برابری نه وېِ په نکاح کی د دوی خوښه خو څه کوی چی نارینه به کله وغوښتل نو دوی به ئی پکار او کسب باندی مجبوروِلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ښځه او د جاهلو قومونو نظريات

د ښځې په باره کې د جاهلو قومونو عجيبې نظريې موجودې وې.د روم غوندې په متمدنو قومونو کې تر يوې زمانې پورې دا مسله او موضوع بلکل داسې پاته وه چې آيا ښځه انسان هم دی او که د ځناورو پشان کوم بل مخلوق دی. په رومي ادوارو کې هغوی د يوه نجس ځناور په ګرځولو سره فيصله وسوه چې هغوی ته د خبرو اترو حق هم نسته.د داړونکې سپيو او اوښانو غوندې د هغوی په خوله کې ځيره او ځنځيرونه تړل کيدله. په مغربې قومونو کې يوه رايه دا هم وه چې ښځه ساه لرونکې هم نه ده. په دې باره کې د دوی دا اختلاف هم وو چې ښځه د عبادت او بنده ګۍ اهليت هم لرې او که يې نلرې ؟ په ځينو قومونو کې د خنزيرانو غوندې د ښځې په ټوله طبقه باندې د مقدسو مذهبې کتابونو په لوستلو باندې قانونې ممانعت وو. او همدارنګه د دوی په عبادت باندې هم پابندې او بنديز وو. څو قبائلو او قومونو بلکې په خود ساخته دينونو کې پلار ته دا حق ورکړې سوی وو چې هغوی خپلې لورګانې پلورلای سوای. آن تر دې پورې چې په ځينو عربو قبايلو کې هغوی ته د خپلو لورګانو د ژوندې ښخولو (ذاتې) حق حاصل وو. او دا کومه بده خبره نه ګڼل کيدله. بلې خواته په نوموړې د جاهيلت په دور کې چې د جاهليت اولٰی او تبرج جاهليت سره اشاره ورته سويده. ښځه يې يوازې د عياشې تعيش آله ګرځول سوې وه. د هغوی حيثيت د نارينوو شاملات،يو وقف او

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو مشترک قومي ملکيت وو چې هغوی د نارينوو د عامه مفاد يو مخلوق او د طبع د خوشحالی سامان ګڼل کيدلی. د هغوی دا افريضه وه چې د غلامانو غونډې د نارينوو په آرام او راحت رسولو کی هر وخت مصروفی او مشغولې وی. او په نوی نوی طرزونو او نمود او نمائشونو او په نوی نوی طريقو سره د ناز او ادا په کولو سره نارينوو ته د آرام او راحت مسائل فراهم او وړاندی کولې. په ډيرو جاهلانه رسوماتو کی به ښځه د ډيرو نارينوو د خوشحالی مشترکه متاع جوړه سوی وه. له خاوند سره سره د هغی عاشق به هم په دی ښځی کی يو شان شريک ګڼل کيده. او يوه نارينه به پرته د عدل ، انصاف او تعداد له لحاظه څخه چې څومره غوښتل همدومره ښځی به ئی د ځان د مفاد او ګټی لپاره له ځان سره ساتلای سوای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ښځې باندې د اسلام د دین ښیګڼې

یوی خواته اسلام ددی ضعیف او ناتوانه جسم ښځه د ظلم او ستم ټولی کړی او زولنی ماتی کړې او هغوی ته ئی د انسانیت په مقام کی له نارینوو سره برابر مقام ورکړ. الله تعالی فرمایي چی : "يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَٰكُمْ شُعُوبًا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓا۟ ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ ٱللَّهِ أَتْقَىٰكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ"

اې خلکو! موږ تاسي له يوه نارينه او يوې ښځې څخه پيدا کړئ او بيا مو تاسي قومونه او قبيلې وګرځولئ، تر څو چي تاسي يو او بل سره وپيژنئ. په حقيقت کښي د الله په وړاندي ستاسي څخه تر ټولو زيات عزتمند هغه څوك دى چي په تاسي کښي تر ټولو زيات پرهېزګار وي. په باوري ډول الله په هر څه پوهېدونکی او باخبره دی. [سُوۡرَةُ الحُجرَات:13]

او حضور اکرم صل الله علیه السلام فرمایی چی " ښځه د نارینوو جوړه نیمایی ده "بیا یی هغه نه یوازی د خدایی خطباتو مکلفه او مخاطبه جوړه کړله بلکی دا هم چی هغوی د عبادت اهل دي او ددین د احکامو په تعمیل او امتثال کی د اجر او ثواب او قدر او منزلت په اعتبار سره له نارینوو څخه وړاندی والی او سبقت هم وړلای سی.

قرانکریم په عبدیت او عباداتو کی له جلاوالی پرته که چیرته نرانو ته د مسلمین ،قانتین ،صادقین ،صابرین ،خاشعین ، متصدقین

(c) ketabton.com: The Digital Library

،صائمین ،حافظین او ذاکرینو خطابونه کړیدی نو ددی تر څنګ یی ښځی هم د مسلمات ،مؤمنات ، قانتات ، صادقات ،صابرات ،خاشعات ،متصدقات ،صائمات ،حافظات ،او ذاکراتو په لقبونو سره نازولی دی. او پرته له کوم امتیاز یی دواړو طبقو ته د مغفرت او اجر عظیم بشارت ورکړیدی .او په فوز عظیم جنت خُلد او رضوان باندی ئی د خوشخبری ورکولو تر څنګ دواړو طبقو ته ویلی دی چی: " وَعَدَ اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةً فِى جَنَّٰتِ عَدْنٍ ۚ وَرِضْوَٰنٌ مِّنَ اللَّهِ أَكْبَرُ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ"

له (دغو) مؤمنانو نارینه او ښځو سره د الله وعده ده، چي داسي باغونه به ورکړي چي تر هغو لاندي به ویالې بهیږي او دوی به پکښي د تل لپاره اوسیږي. په هغو تل ښېرازه باغونو کښي به د دوی لپاره سوتره استوګنځي وي. او تر هر څه زیات دا چي د الله رضا به ورپه برخه وي. همدا ستر بری دی. [سُوۡرَةُ التّوبَة : 72]

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ديني ،دنيوي،انفرادي،اجتماعي،او معاشرتي حقوقو تحفظ

اسلام نه يوازى د دوى د ملکيت حق تسليم کړيدى بلکى پخپل مال او دولت کى يې د هر ډول جايز عقد د تصرف ، بيع او شراء(اخيستلو او خرڅولو) رعايت او صدقې هبې او داسې نورو تصرفاتو حق يې هم ورکړيدى ،د وصيت کولو حق يې ورکړ او د ميراث ومستحق يې وګرځول او ويې وفرمايل چې " وللنساء نصيب مما ترک الوالدين و الاقربون " (يعني ښځې د والدينو او نورو خپلوانو په وراثت کى برخه) په ديت او قصاص کى د نارينوو سره برابرې دي. دهغوى قتل کول خو پريږده د دوى وهل او ټکول هم ممنوع دي. په اسلام کى د دوى د عفت او عزت او پاک لمنې تجاوز کونکي او تهمت لګونکي د دنيا او آخيرت سزاوار يعنې د سزا لايق ګرځول سويدى او د عذاى عظيم د وعيد مستحق ګرځول سويدى.

( إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَٰتِ الْغَٰفِلَٰتِ الْمُؤْمِنَٰتِ لُعِنُوا فِى الدُّنْيَا وَالْءَاخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ)

کوم کسان چې پر پاك لمنو، (د بدو څخه په) ناخبرو مؤمنو ښځو باندې تورونه تپى، پر هغو باندې په دُنيا او اخرت کښې لعنت وکړاى شو او د هغو لپاره لوى عذاب دى.

[سُوْرَةُ النُّور: 23]

او که چيرى وغواړي د خاوند په غلط بهتان سره لعان هم کولاى سى او ترې جلا کيدلاى هم سي شريعت مقدسه په پاکي ښځې

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندي د بهتان د ویونکي لپاره سخته سزا حد مقرر کړی دی.
الغرض هغوی د هر ډول خپلو جایزو حقوقو دفاع کولای سي.
اسلام د هغوی د معاشرتي ،انفرادی، او اجتماعی ژوند ټول جایز بندشونه مات کړیدي.په نکاح کی یی دوی ته د خپلی خوښی حق اختیار ورکړ سوی دی چی څوک وغواړي هغه خاوند کولای سیاو چی څوک ونه غواړی هغه ردولای سي. بیا اسلام د نکاح حدود هم ټاکلي دي چی هغه د مالکیت او مملوکیت رشته نه بلکی د زوجینو پخپل منځ کی د ربط او تعلق نوم دی.

په دی عقد سره هغه د سړی غلامه نه جوړیږی بلکی دا یو داسی تمدنی او معاشرتی ضرورت دی چی سړی او ښځي دواړه ورته محتاج دی. او دا دواړی طبقې د فطری غوښتنو تکمیل دي. البته د فریقینو د پیدایشي او فطری ضرورتونو څخه خاوند ته په هغې باندی یو ډول برتری (لوړوالی) حاصل دی. الله تعالی فرمایي: ( وللرجال علیهن درجة) البته نارینه پر ښځو یو درجه لوړوالی لری. چی په دی کی هم د ښځی لپاره او هم د نارینه لپاره ساتنه او ښیګڼه ده. او ددی ادنی لوړوالی په برخه کی یی هم سړی د مهر د ادا کولو پابند ګرځولی دی.نه یوازی دا بلکی د هغی د ژوند د ټولو ضرورتونو لکه ډوډی او نفقه ،لباس او د استوګنی ذمه واری یی هم د نارینوو په غاړه اچولی ده اګر که ښځه پخپله ډیره مالداره او دولت منه وی.نارینه رکم رکم خواری او مشقتونه تیروی او د هغی د اولادونو د ضرورتونو کفالت کوی.ددی ترڅنګ یی له ښځی سره د هر ډول ښی رویی تلقین هم ورته سویدی. الله تعالی فرمایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی:( يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُوا ٱلنِّسَآءَ كَرْهًا ۖ وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّآ أَن يَأْتِينَ بِفَٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ۚ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰٓ أَن تَكْرَهُوا شَيْـًٔا وَيَجْعَلَ ٱللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا)

اې مؤمنانو! ستاسي لپاره دا روا نه ده چي د زور له لارې ځان د ښځو وارثان کړئ. او نه دا روا ده چي هغوی وربړوئ او د هغه مَهر د يوې برخي د وهلو هڅه وکړئ چي تاسي هغو ته ورکړې وي. هو که هغوی د کوم ښکاره ناکاره چلن کوونکي وي (نو بيا تاسي د هغو د تنګولو حق لرئ)، له هغو سره په ښه چلند ژوند تېر کړئ. که ستاسي هغوی نه خوښېږي، نو کېدای شي چي تاسي به يو شی نه خوښوئ، خو الله به په هغه کښي ډېري ښېګڼي ايښي وي. [سُوْرَةُ النِّسَاء:19]

نبی کريم عليه سلام فرمايلی دی ( چی په تاسو کی له ټولو څخه بهتره او افضل هغه څوک دی چی د چا رويه او سلوک له خپلی ښځی سره ښه وی.

چی کله د والدينو د حقوقو وصيت ورته سويدی نو بيا يی د مور په باره کی زيات تاکيد کړيدی او ويی ويل چی جنت د مور تر پښو لاندی دی ويی وفرمايل چی څوک د لوڼو ښه کفالت او ساتنه وکړه د دوږخ اور به پری حرام وی. او فرمايلی يی دی چی کوم سړی د دوو لوڼو د بلوغ تر وخته پوری ساتنه وکړی هغه به په جنت کی ماته دومره نيږدی وی لکه د يوه لاس دوی ګوتی چی سره نيږدی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی.او فرمایلی یی دی چی " ما اکرم النساء الا کریم ولم اهانهن الا لییم " ( د ښځو عزت او تکریم د شریفانو عزتمنو او د هغو اهانت او سپکاوی د بد اخلاقو او رذیلو خلکو کار دی)

همدارنګه د ازواجو په تعداد کی چی په وروسته کی به هم یو څه بحث پر وکو د جاهلیت غیر محدود تعداد او د نرانو د آزادی څلور میرمنو پوری محدوده کړه او دا هم په دی شرط چی د عدل تقاضاوی پوره کولای سی نو اوس یو نارینه د مالی او استطاعت سره سره له څلورو څخه زیاتی ښځی نسی کولای. همدارنګه په طلاق کی ډیر د اسراف او ظلم او زیاتی سلسله وه. ددی ابتذال او اسراف د بندولو په خاطر اسلام په نارینه باندی ډول ډول بندیزونه لګولی دی او الله تعالی فرمایلی دی.: " يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُوا۟ ٱلنِّسَآءَ كَرْهًا ۖ وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا۟ بِبَعْضِ مَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ إِلَّآ أَن يَأْتِينَ بِفَٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَعَاشِرُوهُنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ۚ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰٓ أَن تَكْرَهُوا۟ شَيْـًٔا وَيَجْعَلَ ٱللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا"

( اې مؤمنانو! ستاسي لپاره دا روا نه ده چي د زور له لاري ځان د ښځو وارثان کړئ. او نه دا روا ده چي هغوی وربړوئ او د هغه مَهر د یوې برخي د وهلو هڅه وکړئ چي تاسي هغو ته ورکړی وي. هو که هغوی د کوم ښکاره ناکاره چلن کوونکي وي (نو بیا تاسي د هغو د تنګولو حق لری)، له هغو سره په ښه چلند ژوند تېر کړئ. که ستاسي هغوی نه خوښیږي، نو کېدای شي چي تاسي به یو شی نه خوښوئ، خو الله به په هغه کښي ډېري ښېګڼي ایښي وي. [سُوۡرَةُ النِّسَاء :19]

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا د رجوع په شکل کی ددی مبغوض الی الله عمل تلافی موقع یی هم نارینوو ته ورکړ. له اسلام څخه مخکی د کونډو ښځو حالت انتهایی د رحم وړ وو اسلام نه یوازی کونډو ته د نکاح عقد جایز وګرځاوه بلکی پخپله نبی کریم صل الله علیه وسلم په اولې نکاح کی عملی نمونه وړاندی کړه او د کونډو مشکل یی حل کړ. ښځو ته اسلام دا حق هم ورکړ چی د نکاح په شکل کی د خپل منحی معاهدې د محبورو او نامساعدو حالاتو له وجهی د فریقینو په خوښی سره فسخ او منسوخ کولای سی. الغرض د دنیا هیڅ یو دستور او رسم او رواج هم داسی نه دی چی ښځی ته هغه مقام ورکړی وی کوم چی اسلام ورکړیدی.

## د ښځې عصمت او ابرو ته احترام

همدارنګه د ښځې د هغی بی کسۍ معامله هم ده کوم چی قرآنکریم په جاهلیت اولٰی سره تعبیر کړی دی چی په هغه کی له ښځو څخه د کوچنیانو د لوبو د سامان غوندې شی جوړ سوی وو. او په دی وجهې دا صورت حال د کورنۍ او تمدنی ژوند د خرابیدو او معاشری د تباهۍ سبب جوړیده. اسلام دا حالات داسی له منځه یوړل چی د نارینه د ظلم او ستم او د هغو د شیطان صفتنه او انسان شکله درندګانو او وحشانو څخه یی د هغو د حفاظت هغه طریقی اختیار کړی چی ښځو لره یی له خپل حیثیت او مقام څخه لرې کوونکی وې. که هغه عملی وجوهات وو او که نظریاتی او یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصورى. اسلام دې لرغ د ساتلو وړ يوه قيمتى خزانه يوه نادره او عجيبه ملغلره او نازک اميل وګڼله.

نبى کريم صل الله عليه وسلم فرمايلى: ( بى له شکه ښځه يو پټ سوى شى دى چې کله دباندى ووځى نو شيطان وريپسى سى تر څو چې څوک په دى خپرى سوى لومې کى راونيسى).

نارينه ته هم په هغې باندى له بد نظر څخه د منع کولو په صورت کى د غض بصر ( د سترګو د کښته کولو) حکم ورکړى سو.نبى کريم صل الله عليه وسلم فرمايلى دى: " زنا العين النظر "(بد نظر د سترګو زنا ده) نو چې څرنګه نظر وى همدارنګه يى اثرات وى.

## د ښځو آزادى د تبرج جاهليت دوهم نوم دى

ليکن د نن دا زمان د ښځو د آزادئ او حقوقو او مساواتو په نامه دا محترم او مقدس صفت دوباره د جاهليت اولٰى خواته د ورګرځيدلو مذموم کوښښ او سعى کوي چې د مسلمانانو دا شرافت مآبه دولت او قيمتى خزانه يو ځل بيا د کور ،ګودر او دهليز څخه ووځي او په بازارونو کى د عالم تماشا وګرځى. او کور د رونق د جوړيدو په ځاى د محفل شمع وى. د آلاتو او صنايعو له حقير څخه حقير سى د مشهورتيا ذريعه جوړه سى. هغوى د سيل په ځايونو ،پارکونو ،هوټلونو ،په کلبونو ،جلسو او جلسونو ،په عدالتونو ،کارخانو ،کمپنيو ،سينماوو ،ميلو ،او د سياست په ستيجونو کى رسوا ذليل او خوار سوى د نارينوو د طبعې د خوشحالولو آله وګرځي او دا هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاسقانه تبرج او د جاهلیت اولٰی نمونه او نمائش دی چی د عصمت او حیاء دا امیل په بازار کی دانی دانی کول غواړي.

## له آزادی څخه د غلامی خواته دعوت

دا دعوت او تحریک هغوی ته د لعبه لاعبین د جوړولو دعوت دی. دا دعوت په اصل کی کی د ښځو د آزادی دعوت نه دی بلکه د هغوی د غلام او کمزوری د جوړولو دعوت دی. او د جاهلیت هغه شکل دی کوم چی اسلام زیر و زبر کړی وو. دا حالت له ماضی (مخکینی) زمانی سره وتلی نو بیا د حضرت عمر رضی الله عنه د ارشاد قدر او قیمت څرګندیدلی سی. د اسلام نوموړوی عظیم سیاستدان ،مصلح او مفکر فرمایی: " انما تنقض عری الاسلام عروة اذ نشأ فی الاسلام من لم یعرف الجاهلیة " (چی کوم سړی په اسلام کی له اوسیدو سره د جاهلیت له طریقو څخه ناخبر وی. له هغه څخه ددې خطرې ویره وي چی هغه به اسلام د یوې یوې کړی په کولو سره مات کړي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اسلام د عفت او عصمت نظام

اوس باید چې دا وګورو چې اسلام ښځې لره څنګه د جاهلیت اولٰی له ظلمونو څخه و ایستله او د نور په رڼا کې یې ودروله. اسلام د ښځو د حقوقو د رعایت او ساتنې ،عفت او عصمت حفاظت او د تهذیب او تربیې داسې مستقل نظام وړاندې کړ چې اصول او جزئیات ،جلي او خفي ،ولمي ،او نظري ،عملي او خیالي په ټولو اړخونو باندې داسې چاپیر دی چې په دې نظام کې ښځه د فحشاء او فواحشو سیوری هم نسی پری غورځیدلای. د فحاشۍ دواعی او اسبابو ته ئې د فواحشو په نظر سره کتلی دی.آن تر دې پوری چې د خیال او تصور لامحدود وسعتونه ئې هم د عصمت او عفت په دائرو کې محدود او محصور کړیدی. په دې نظام کې حالات او مصالح ،علتونه او بواعث او د جبلي او فطری غوښتنو هر ډول رعایت سویدی چې له دې څخه پرته نه مدني سیاست صحیح کیدلای سي او نه تهذیب الاخلاق ممکن دی. او نه د منزل تدبیر کارګر ثابتیدلای سی. او له دې پرته د یوې پاکې معاشرې تعمیر (آبادی) د اخلاقي اقدارو حفاظت او د کورني نظام د قیام او استحکام اود تهذیب او تمدن یوه مثالي نمونه قائمول قطعي ناممکن دی. راځئ چې موږ په دې سلسله کې په قرآن او سنتو باندې یو سرسري نظر واچوو او وګورو چې د نر او ښځې حکیم خالق خداوند کریم او د بني نوع انسان رحمت مجسم نبی الرحمت علیه الصلٰو ه والسلام زموږ څنګه لارښوونه کړې ده او له دې څخه وروسته یو انصاف خوښوونکې پخپله قضاوت کولی سی چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای جل جلاله او د هغه د رسول صل الله علیه وسلم منشأ څه دی؟

## د پردې احکام

د الله تعالی ارشاد دی: " وَقَرْنَ فِى بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَٰهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ ۖ وَأَقِمْنَ الصَّلَوٰةَ وَءَاتِينَ الزَّكَوٰةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ''

پخپلو کورونو کښې مېشتې اوسئ، او د تېر جاهلي دور غوندې سینګار کړې، بې ستَره مه ګرځئ. لمونځ قایم کړئ، زکات ورکړئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ. الله خو دا غواړي چې ستاسي نبوي کورنۍ څخه چټلې ایسته کړي او تاسي په پوره ډول سُتره کړي.) [سُوۡرَةُ الأحزَاب : 33]

په تګ او راتګ یې پابندی ولګوله چې په داسی لباس کی به اوسی چې د بدن یا اندام کومه برخه ئی ښکاره نسی او پټ زینت او ښائست یې څوک ونه وینی. الله تعالی وفرمایل. " وَقُل لِّلْمُؤْمِنَٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَٰرِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ۖ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ ۖ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ ءَابَآئِهِنَّ أَوْ ءَابَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَآئِهِنَّ أَوْ أَبْنَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ أَخَوَٰتِهِنَّ أَوْ نِسَآئِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُنَّ أَوِ التَّٰبِعِينَ غَيْرِ أُولِى الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَىٰ عَوْرَٰتِ النِّسَآءِ ۖ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ ۚ وَتُوبُوٓا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ"

(c) ketabton.com: The Digital Library

او [اې پېغمبره (ص)!] مؤمنو ښځو ته ووايه: چي خپلي سترګي ( تر کنټرول لاندي وساتي او د خپلو شرم ځايونو ساتنه وکړي. او خپله ځان جوړونه او سينګار دي نه ښکاره کوي، پرته له هغه چي په خپله څرګند شي، او پر خپلو سينو دي د خپلو پوړنو پلوونه واچوي. هغوی دي خپله ځان جوړونه (سينګار) نه ښکاره کوي، پرته ددې خلکو په وړاندي: مېړونه، پلرونه، د مېړه پلرونه، خپل زامن، د مېړونو زامن (بنزيان)، وروڼه، ورېرونه، خوريان، د خپلي طبعي ښځي، خپل مملوك، خپل هغه لاس لاندي نارينه چي ښځو ته حاجت نه لري او هغه ماشومان چي لا تر اوسه پوري د ښځو له پټو خبرو سره اشنا شوی نه وي، يعني په دغو ماشومانو کي جنسي غريزې نه وي را ژوندۍ شوي. او هغوی دي پر ځمکه باندي په زوره پښو وهلو سره په داسي شان تک نه کوي چي د هغو د پټ کړي سينګار خلکو ته معلومات وشي. اې مؤمنانو! تاسي ټول په ګډه سره الله ته توبه وباسئ، ښايي چي برى درپه برخه شي.) [سُوۡرَةُ النُّور : 31]

او په بل ځای کی ازاوج مطهرات ،بنات اطهار او ټولو مسلمانو ښځو ته فرمايلی دی " يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّ ۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن يُعۡرَفۡنَ فَلَا يُؤۡذَيۡنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا" ([اې پيغمبره (ص)!] خپلو مېرمنو او لوڼو او د مؤمنانو ښځو ته ووايه چي پر خپل ځان باندي د خپلو ټکريو پلوونه خواره کړي. دا ډېره مناسبه کړنچاره ده، تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو چي هغوی وپېژندلای شي او ونه ځورول شي. الله تعالی ښه بخښونکی او مهربان دی.) [سُوۡرَةُ الأحزَاب : 59]

له دی آیت څخه صحابیاتو رضی الله عنهن دا مفهوم وو۔ حضرت عائشه رضی الله عنها فرمايي چی په انصاري ښځو دی خدای رحم وکړی چی هغوی کله د حجاب حکم واوریده نو لوی لوی ټیکری یی واخیستل او ځانونه یی پری پټ کړل.

د نبی کریم صل الله علیه وسلم له وصال څخه وروسته ازواج مطهراتو حجونه او طوافونه هم کول نو ځانونه به یی پټ وو.په یوه بله موقع کی د جسم د عام زینت د پټ ساتلو لپاره د زیات تاکید حکم ورکړی سو او وئی فرمایل چی: " وَقُل لِّلۡمُؤۡمِنَٰتِ يَغۡضُضۡنَ مِنۡ أَبۡصَٰرِهِنَّ وَيَحۡفَظۡنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبۡدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنۡهَاۖ وَلۡيَضۡرِبۡنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّۖ وَلَا يُبۡدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوۡ ءَابَآئِهِنَّ أَوۡ ءَابَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوۡ أَبۡنَآئِهِنَّ أَوۡ أَبۡنَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوۡ إِخۡوَٰنِهِنَّ أَوۡ بَنِيٓ إِخۡوَٰنِهِنَّ أَوۡ بَنِيٓ أَخَوَٰتِهِنَّ أَوۡ نِسَآئِهِنَّ أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُنَّ أَوِ ٱلتَّٰبِعِينَ غَيۡرِ أُوْلِي ٱلۡإِرۡبَةِ مِنَ ٱلرِّجَالِ أَوِ ٱلطِّفۡلِ ٱلَّذِينَ لَمۡ يَظۡهَرُواْ عَلَىٰ عَوۡرَٰتِ ٱلنِّسَآءِۖ وَلَا يَضۡرِبۡنَ بِأَرۡجُلِهِنَّ لِيُعۡلَمَ مَا يُخۡفِينَ مِن زِينَتِهِنَّۚ وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ"

او [اې پیغمبره (ص)!] مؤمنو ښځو ته ووایه: چي خپلي سترګي تر کنټرول لاندي وساتي او د خپلو شرم ځایونو ساتنه وکړي.  او خپله ځان جوړونه او سينګار دي نه ښکاره کوي، پرته له هغه چي په خپله څرګند سي، او پر خپلو سینو دي د خپلو پوړنو پلوونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

واچوي. هغوی دي خپله ځان جوړونه (سينګار) نه ښکاره کوي، پرته ددې خلکو په وړاندي: مېړونه، پلرونه، د مېړه پلرونه، خپل زامن، د مېړونو زامن (بنزيان)، وروڼه، ورېرونه، خوريان، د خپلي طبعي ښځي، خپل مملوك، خپل هغه لاس لاندي نارينه چي ښځو ته حاجت نه لري او هغه ماشومان چي لا تر اوسه پوري د ښځو له پټو خبرو سره اشنا سوی نه وي، يعني په دغو ماشومانو كي جنسي غريزې نه وي را ژوندۍ سوي. او هغوی دي پر ځمکه باندي په زوره پښنو وهلو سره په داسي شان تګ نه کوي چي د هغو د پټ کړي سينګار خلکو ته معلومات وسي. اې مؤمنانو! تاسي ټول په ګډه سره الله ته توبه وباسئ، ښايي چي برى درپه برخه سي.)[سُوۡرَةُ النُّور : 31]

ددی پردی حجاب تر دې زيات واضح او غير مبهم حکم په دې الفاظو سره ورکړی سو.

**د حجاب آيت** " و اذا سألتموهن فاسألوهن من ورآء حجاب "پرته له ضرورت ځخه په پرده کی هم مه راوځی. که چيرته د محبورۍ لمخی څه ضرورت پيښ سی نو کورته دننه وتلو او داخليدلو په ځای د پردې له شا ځخه دې سوال او جواب ورسره وکړی. ګواکی خبری اتری به هم د پردې له شا ځخه وی او ضرورت به هم د پردې له شا ځخه. د لويو لويو معاملاتو او تجارتونو ،په ګودامونو او دوکانونو کی د موډلی انجلی په جوړيدلو سره د خرڅيدلو ،په

(c) ketabton.com: The Digital Library

میلو او محفلونو کی د باجی ږغولو او د خلکو د جذبولو لپاره نه بلکی دیوه معمولی غوندي شی چی د متاعاً په لفظ سره ورته اشاره سویده.

## د بې پردګۍ د حامیانو مغالطه او دوکه بازی

د حجاب ددی ایت مقصد او مفهوم څرګند دی چي د پردیو په مخکې نه یوازې د ښځې عام جسم بلکې د هغوی مخونه ،لاس او پښې هم د حجاب په حکم کې شاملې دي - په ځینو روایتونو کې د پورتني آیت د " الا ما ظهر منها " له استثناء څخه دا مطلب اخیستل سویدی چی له دې څخه مخ ،لاسونه او پښې مستثنٰی سویدی چي ښځه د دغو اندامونو د پټولو پابنده نه ده -د پردې مخالفین داسې روایتونه پلټي ،راباسي او دا ګڼي چی موږ ته د بې پردګۍ سند لاسته راغی -په داسې حال کې چي دا ناپوهي ده یا په قصد سره د دجل او تلبیس څخه د کار په اخیستلو ته مغالطه (دوکه) ورکول دي -همدا ډول دا خلک هغه تول روایتونه او نصوص له نظر څخه اچولي دي چي په هغو کې د مخ ،لاسونو او پښو د پټولو صریح حکم ورکړی سویدی.

## په ستر او حجاب کې فرق

حال دا چي په حقیقت کې په دواړه ډوله روایتونو کې کوم تعارض نسته -دواړه پخپلو خپلو دائرو کې واجب العمل دي -یوه دائره د ستر ده او یوه د حجاب- یو ستر عورت دی او بل حجاب -د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عورت ستر (پټول) په نر او ښځې دواړو باندې فرض دی- د نر د بدن ستر له نامه (نوو) څخه تر زنګنونو پورې دی یعنې نر به د خپل بدن دا برخه د هیچا په مخ کې هم نه بربنډوی او د جسم یا بدن له نومورې برخې څخه پرته نور جسم له ستر څخه دباندې ده.
او د ښځې د بدن د ستر برخه دومره نه ده بلکه له غړی څخه واخله بیا سینه ،ملا ،ورنونه ،پښې سره د ښنګري او پوندې پورې د ټولو پټول فرض دي-لکه څرنګه چې د سړي د جسم د ستر برخه نه په کور کې د چا په مخ کې بربنډولی سی او نه دباندې -که ئې پلار ،ورور ،او زوی هم په مخکې موجود وی بیا به ئې هم نه بربنډوي -همدارنګه ښځه د خپل بدن یاده سوې برخه به خپل کور کې له محارمو څخه هم پټه ساتي -البته مخ ،لاسونه ،او د پښو پټول د پلار ،ورور ،زوی او داسې نورو محارمو څخه پټول ضروري نه دي -که چیری ددغو دریو اندامونو څخه پرته په جلا ځای کې یوازی د لمانځه په دوران کې ئې د کوم اندام څلورمه برخه بربنډه سی او یا د سړي د ستر د بدن د ستر د برخې څلورمه حصه بربنډه سي نو لمونځ ئې فاسدیږي -دا هغه حقیقي ستر دی چې بذاته په ښځه او نر دواړو باندې یوشان لازم دی -که فرق دی نو د جسم په حدودو کې فرق دی -او لکه څرنګه چې سړی له خپل همجنس څخه د ستر د برخې د پټولو پابند دی نو همدارنګه ښځه هم له خپلو همجنسو ښځو څخه له مخ ،لاسونو او پښو پرته به نور ټول بدن پټوي - آن تر دې پورې چې له ضرورت پرته په تنهایي کې هم د نر او یا ښځې لپاره د ستر د برخې لوڅول یا بربنډول مکروه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بل شی چی هغه ته حجاب وايي يعنې له ټولو پرديو سړو څخه کوم چې يوازی په ښځې باندې لازم دی نه په سړيو باندې له سر څخه واخله بيا تر پښو پورې د مخ د ټولو برخو په شمول د ټول بدن پټول فرض دي -د حجاب او ستر د مختلفو دائرو سره ګډول د بر پردګۍ د جواز ورکونکي په عمومي توګه خلکو ته دوکه او فريب ورکوي -که چيري لاس او پښې ستر نه وای نو د پردې له شا څخه خبرې يعنې " من ورآء حجاب " د قيد لګولو ضرورت به نه وای او نه د " ادناء جلابيب " يعنې له سر څخه تر پښو پورې د ټيکري د اچولو قيد ته هم ضرورت وای -پس که چيري په ځينو روايتونو کې څه مستثنيات دي نو هغه د ستر په اړه دي نه چې د حجاب په اړه چې زموږ په عرف کې ورته پرده وايی.

## په خبرو اترو کې احتياطي تدبيرونه

همدارنګه د استيذان په آيت کې په سړيو باندې لازم کړی سويدي چې هيڅ يوه کورته له اجازې پرته مه داخليږی او که چيرته د پردې تر شا مجبوراً له يوه نامحرم سره د خبرو ضرورت پيدا هم سي نو بيا هم دا لاربښوونه سويده چې په خواره او نرم آواز او نرمې لهجې سره به ښځه خبرې نه ور سره کوي -بلکې د خپلې پردې په لحاظ کولو سره به د غوسې په انداز بندې بندې خبرې او ساده لهجې باندې خبرې کوي تر څو چې د يو بد نيته او خبيث طبعيت لرونکي سړي په زړه کې ميلان پيدا نسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په خاص حالت کې دباندې د وتلو اجازه

دا واویلا او ویره چې په دې ډول سره یوه ښځه د یوه قیدي غوندې په قفس کې پاته کیږي چې د هغې لپاره له کور څخه دباندې قدم ایښودل هم جرم وي -حالانکې آیتونه او نصوص او د ممانعت هیڅکله دا مطلب نه دی چې ښځه دې د یوه دیني یا دنیوی ضرورت او مجبورۍ لمخې هم دباندې نه سي وتلای -هغوی پرتهذله کومې شبهې د دیني او نیوي ضرورتونو لپاره دباندې وتلای سي. د حج او زیارت لپاره ،د عبادتونو لپاره ،فاتحه خواني او دمریضانو د پوښتنې لپاره ،د والدینو او محارمو خپلوانو د ملاقات لپاره او د علاج او معالجې لپاره دباندې وتلای سي -لیکن د دوی دا وتنه به له څو شرایطو او قیدونو پورې تړلې وي -اسلام دا غواړي چې ښځه پرته له ضرورت څخه دباندې ونه ووځي -او ددې لپاره ډول ډول وتلو حوصله شکني وسوه چې دا نقل او حرکت ئې له کم څخه کم پاتې سی. او کله چې د ضرورت په بناء سره د وتلو نوبت راسي نو دا به د عریاني ( بربنډ والي) ،بې پردګي ،د ښائست او نمائش تشهیر او د جذباتو د راپورته کولو ذریعه نه جوړیږي -او ددې په تګ او راتګ ،لباس ،جامه ،او ګفتار کې د فحاشۍ او بې حیایی هیڅ یوه داعیه او عنصر شامل نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## له کور څخه د وتلو شرائط او قیدونه

دا وتل ئي د شرایطو په یوی دائرې کې بند دی -سړیو ته هم او ښځو ته هم د غض بصر یعني د سترګو د پټوالي حکم ورکړ سویدی -که هغوی ته د سفر ضرورت پیښ سي نو که دا سفر د حج وي چي ادا کول ئي فرض دي نو د پلار ،زوی ،ورور ،خاوند او محارمو څخه پرته نسي تللای -نو کله چي د عبادت د سفر دا حال دی نو آیا د عادت ،سیاحت او نورو سفرونو لپاره به یوازي تلل څنګه جایز وي ؟نو کوم خلک چي ښځې له قید څخه خلاصوي او په وطنونو وطنونو ،ښارونو ښارونو کي ورته د یوازي ګرځیدلو او سیاحت لاره خلاصوي په هغو باندې د یوه اخبار په مراستلاتي کالم کي یوې ګمنامي خور ډیر په ساده الفاظو کې داسي مسخره کړی ده چي " د خدای لپاره موږ د هغو فقیرانو غوندې مه جوړه وی چي لوخ سر ،لوخې پښې او لوخ جسم د سفر سامان ئي په ملا پورې تړلی وي او د خیرات په غوښتلو سره په سړکونو کي ګښته او پورته ګرځي ".

نو دا وتل تبرج جاهلیت نه دی نو څشي دی ؟ نوی ،نری او تنګ لباس ،یا مغربي فیشن کوي او په سړکونو کې ګرځي راګرځي -نو ددي وتلو اجازه که چیری اسلام له اسلام څخه غواړی نو اسلام داسې کاسیاتو ،عاریاتو (تش په نامه لباس لرونکي او په حقیقت کي بربنډ) باندې لعنت ویلی دی او جهنم د عذاب وعید او وعده یی ور اورولی دی -له حج څخه پرته د جمعې د لمانځه هم همدا حال دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم چی له افضل ترینو عبادتونو څخه ګڼل کیږي -صحابیاتو رضی الله عنهن به هیله کوله چي په جمعې کی شریکې سي په مسجد نبوی کې لمونځ او د حضور اقدس صل الله علیه وسلم په اقتداء کې د جمعې لمونځ چي د کائناتو ټول متاع ئې په پرتله کی هیڅ دي نو له دې څخه لوی سعادت بل څه کیدلای سي نفس اجازت خوئي ورکړ لیکن دلته هم له قیداتو سره چی ماحول او زمانه د فساد نه وي د ښځې عزت او عصمت په خطر کې نه وی او ښځې به له سر څخه تر پښو پورې پټې وي چی دې ته په "متلففات بمروطهن "کې هم اشاره سویده او په صفونو کې به د هغوی صف تر ټولو وروستی وي چي تر ټولو به مخکې راځی او تر ټولو به مخکې ځي. او د سړیو او ښځو د سترګو د ټکر نوبت هم رانسي.او ځینو فقهاوو او امامانو د جمعې په لمانځه کې د نر او ښځې محاذات او برابري د لمانځه ماتوونکی بللی دی -غرض دا چي ډول ډول ممنوعات او قیدونه په دې کې هم لحاظ سویدی.

یوې صحابیې رضی الله عنها د سرور کائنات صل الله علیه وسلم په اقتداء کې د لمانځه د کولو هیله ښکاره کړه نو حضور صل الله علیه وسلم ورته وویل چې په کور کې لمونځ ادا کول ستا لپاره تر هغه لمانځه بهتر دی چي د کور په سرای کی یي ادا کوی او د کور په برانډه کې د لمانځه ادا کول ستا لپاره له هغه لمانځه څخه بهتر دی چي په جومات کې ادا کوی -او د کور ددې لمانځه بهتري ئې د هغو جومات تر لمانځه زیاته وګڼله چې یو لمونځ ئې د نورو جوماتونو په پرتله په زرګونو چنده فضلیت لري -او بیا د سرور

(c) ketabton.com: The Digital Library

کائنات صل الله علیه وسلم په اقتداء کې د لمانځه په مقابله کې د دنیا او آخرت د ټولو دولتونو په مقابله کې بې قیمته دی -او د سعادت او نیکبختۍ په هغې زمانې کې چې د عفت او تقوٰی دور وو او د تسلیم او انقیاد کیفیت پخپله په ښځو کې هم دومره وو چې د حجاب د آیت په نزول باندې چې کومې ښځې په لار کې د تګ په حالت کې وی هم هلته یوې خواته کښیناستلې او بل قدم ئې په هغه وخت کې واخیستې چې خپل ځانونه ئې په ټیکریو کې پټې کړلې -جومات ته د تللو په ضمن کې چې اجازه ورکړی سوه نو په یوه آیت کې ئې هغه هم د شپې له تیاره سره مقید کړله چې ځوک هم تلل غواړي نو د شپې په تیاره کې تلل ورته بهتر دي -او په یوه روایت کې ئې وفرمایل چې کله جومات ته د تللو قصد او اراده کوی نو خوشبویي به نه لګوی بلکې ممانعت هم وارد سو چې کومه ښځه خوشبویي لګوي نو له موږ سره دې د ماسخوتن په لمانځه نه شریکیږي -او د خوشبویي څخه پرته داسې سینګار او ځان جوړول هم بند او ممنوع دي چې په جومات کې د لمونځ کوونکو لپاره د فتنیاو فساد باعث او سبب جوړ سي -جومات ته چې راځي نو ساده به راځي یعنې د سینګار په حالت کې به نه راووځي -او بیا د خوشبویي ممانعت خویوازې له جومات سره مخصوص نه دی بلکې چې هر کله دباندې ووځي نو د خوشبویي له لګولو څخه به ځان ساتي تر څو د خلکو د متوجه کیدلو ذریعه جوړه نسې او داسې ښځې ته چې خوشبویي ولګوي او د خلکو ترڅنګ تیریږي زانیه ( زناکاره) ویل سویدي - " فهی کذا و کذا ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

دباندې د وتلو په وخت کی دا قید هم ولګول سو چي " ولیضربن بخمر من علٰی جیوبهن " یعنې اوږده ټیکري دې په ځانونو واچوي -ښځې چي کله شرنګووني ګاڼې په ځان نه پورې کوي او په زوره زوره قدمونه دي نه ږدي چي د ګاڼو آواز ئې پورته نسې او خلکو ته د هغې د پټو ګاڼو معلومات ونسې او یا د هغو له آواز څخه خلک د هغې خواته مائل نسي -ځکه چي آیت کریمه دی چې: " ولا یضربن بار جلهن " (الایة) نبي کریم صل الله علیه وسلم وفرمایل چې ښځو ته په پردیو سړو باندې د سلام اچول نسته -او نه په هغوی باندې د پردي سړي د سلام ځواب سته -د تمدن او تهذیب په نامه سره د ښځو کلبونه او محفلونه ته را ایستونکو ته په دې کي سبق دی چي نبي کریم صل الله علیه وسلم ښځې حمام ته له تللو څخه منع کړې ځکه چې حمام د سړیو او ښځو د ګډون له ځایونو څخه یو ځای دی -او داسې ترقي یافته او تمدني معاشرې د شریعت د حضور صل الله علیه وسلم د برداشت وړ نه وو او همدارنګه ښځې ئې له جنازې سره له تللو څخه هم منع کړې.

## یوازې عملي او علمي نه بلکې خیالي او تصوراتي تحدیدات

او همدارنګه ئې د ښځو پر منصبونو او دندو باندې ټاکنه ممنوع وګرځوله چې په هغو کې له نارینوو سره ګډون او مخامخ والی او یا خلوت مواقع پلاس ورځې -حکومت او ریاست'ولایت عامه قضاء او د محکمو له کارونو څخه ئې ښځې منع کړي -دا،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحديدات يوازې تر تمدني ،معاشرتي ،عملي او عملي تر حده پورې محدودنه وو بلکې تر خيالاتو او تصوراتو پورې د حياء او عفت ساتنه وسوه -او په نارينوو باندې ئي له ښځو ځخه په زياتو شويو اوبو اودس کول ځخه په ځينو حالاتو کې ناجائز او په ځينو حالاتو کې مکروه ګرځولی دی -داسی نه وی چې د خيالاتو سلسله له اوداسه ځخه تر ګناه پورې ورسيږي -او کوم عمل چې د ګناهونو د پاکوالي ذريعه وي هغه د ګناهونو ذريعه جوړه سي -په جنازه کې به امام دښځې له سينې ځخه به يو ځه لرې دريږي اګر که په هغې باندې پرده هم پرته وي- تر ځو چې امام تصورت د ښځې د محاسنو خواته ونه ګرځي.امام په جمع کې د مقتديانو د اقتداء نيت - به کوي ليکن په ځانګړې توګه به د ښځې د اقتداء نيت نه کوي همدارنګه د سلام د ګرځولو په وخت کې به د ښځې نيت نه کوي تر ځو چې لمونځ په شروع يا پای کې د بدو تصوراتو او د نفس د ناجائزې برخې موجب ونه ګرځي.

## ايا پرده بې ځايه حبس دی ؟

نن ځه سويدي چې د ښځو په کور کی بند اوسيدل ګواکې هغوی په قفس کی بنديدل دي -او دا بې ځايه حبس په "مساواتي " دور کې نسې برداشت کيدلای او دا ډول په کورونو کې په کښناستل'په

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسي حال کې چې د ديني او دنيوي ضروورياتو لپاره د شرايطو او قيدونو په لحاظ کولو سره چې د ښائست له ښوولو او د فواحشو د ذريعې له جوړيدلو څخه ځان وساتي دباندې هم وتلی سي -او د کور چارديوالي د هغوی لپاره د زرګونو خطراتو او مصيبتونو څخه د تحفظ ذريعه ده -دا هيڅکله قيد او تکليف نه دی بلکې عين راحت او نعمت دی -که چيرته په کور کې پخپلې خوښې سره کښيناستل قيد وي نو سړی هم ډير وخت په کورونو کې اوسيږي - هغوی هم جبراً وباسی بيا نو پرته له ضرورت څخه ګرځيدل به د سړيو لپاره هم معيوب وي.

## د نر او د ښځې دائره کار

اصل معامله د خلقي او جبلتي تقاضو له وجهې ويشلی ده -سړی دباندې ووځي او د ښځې او د هغې د بچيانو لپاره په زرګونو پريشانۍ او مصيبتونه ګالي -په دوکانونو ،کارخانو او داسې نورو کارونو کې خپله خوله بهوي او د زړه په وينې کولو سره روزي ګټي -او کله کله بيا په مزدوري او بزګري کې قيد وي - او کله د دفتر په يوه کونج کې د خپل ژوند ټول وخت تيروی -او همدارنګه د ښځو په ذمې باندې دکور کارونه ،د بچيانو تربيت او حفاظت او د کور ساتنه ده -هغوی د کور اسير نه دي بلکې د کور ښائست او د آبادۍ رڼا ګاڼي دي -نوی تهذيب د ظلم او قيد په نامه سره په ظاهره په زخم باندې مالګې دوړوي او هغوی دباندې د ناقابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

برداشت ذمه واریو او مصیبتونو خوا ته باسي او ددې ترځنګ په کارخانو او د دفترونو کې او په چوکونو او بازارونو کې د خپلو ځانونو لپاره د تعیش آلې جوړوي او پیدا کوي -یوې خواته د قید دا استدلال او بلې خواته په هغه وخت کې دا وایي چې د افغانستان ،پاکستان....زیاتره خلک په کلیو کې د پردې پابند نه دي او د خپل خودساخته استدلال نفی کوي.

## په کور کې کښیناستل قید نه بلکې راحت او نعمت دی

که چیرته په آرام او راحت ،آبرو او عزت سره د راحت په کونج کې ژوند تیرول قید دی نو د ښارونو د لکونو عوامو ژوند څه دی چې د زرګونو مشکلاتو په ژرنده کې په میده کیدو سره په یوه ښار کې خپل مستعار ژوند تیروی -د هر ډول راحت څخه محروم ،د اوبو کمی ،د خوراک نه میندیدل او اوس د ښار د فضا د ککړوالي په نتیجه کې د هوا غوندې عام نعمت څخه محروم دي -نو که چیرته دا ټول قید وي او قید هم داسې بد قید نو بیا دي ټوله ښاري آبادی باید د ځنګلو خواته را وایستل سي -چې هغوی په آزادو فضاوو او ځنګلونو کې آزاد وګرځي -او که چیرته دا ټول قید نه وي نو ښځو ته پخپل اختیار او رغبت او د فطرت په بناء سره په کورونو کې اوسیدل هم قید نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پرده نه بلکې بی پردګي د صحت د خرابوالي سبب دی

او بیا د ښځو د صحت د خرابوالي ژړا کیږي حالانکې زموږ په ملک کې د صحت د خرابوالي په شرح کې د زیاتوالي اسباب هغه دي چې یوازې په ښځو باندې نه بلکې په نارینوو 'سپین ږیرو او هلکانو ئې ټول پخپل لاس کې اخیستي دي -د ژوند له ضرورتونو څخه اکثره د استحصالي زولنو له وجهې محروم دي -کومه خالصه غذا یا خوراک نه پیدا کیږي -او نه د سر د پټولو لپاره یو موزون کور پیدا کیږي -او نه د یخ او ګرمی څخه د ځان ساتنې په خاطر مناسب لباس پیدا کیږي -د خالصې اوبو او هوا څخه هم بې برخې دي نو د صحت شرح به څنګه بهتر کیدلی سي -اګر که د صحت د ساتنې اصل اسباب و پلټل سي او د چور او چپاول په دې کاروبار کې کمی وسي چې له وجهې یې عوام د مصیبتونو او لوږې په کنده کې لویدلي دي -نوی آسانتیاوې ،خصوصاً د ښځو د علاج معالجې خواته توجه وسي ،او که چیرې د ښځو په کور کې کښیناستل د صحت د بربادی ذریعه وي نو راځی چې د مخلوطو ،بې حیاوو او بې حجابو ملکونو حال هم وګورو چیری چې ښځې دومره آزادې دي چې په اونیو اونیو کې د خپل کور د سرای لیدل ئې نه په برخه کیږي -هلته چې کله ښځه قدم دباندې ږدي نو په زرګونو پریشانۍ او خطراتو سره مخامخ او په جسماني او نفسیاتي بیماریو کې اخته کیږي -د اروپا ورځ په ورځ زیاتیدونکي په زرګونو ډول ډول جنسي ،عصبي ،نفسیاتي ،ذهني او دماغي امراضو او د مرګونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمیر کې د زیاتوالي راپوروونه ولولی او مطالعه ئې کړی -د تفریح ځایونو او کلبونو ژوند د اروپایي قومونو د صحت لپاره د سرطان دانه ګرځیدلې ده -او په داسې جنسي مرضونو اخته دي چې له دې ښځه مخکې یې نوم او نښان هم نه وو -په زرګونو او لکونو ښځې د اسقاط حمل او د حمل په اړوندو مرضونو کې مبتلا دي -د کارخانو او دفترونو نوکري د هغو صحت خراب کړی دی - هغوی د خپلو بچیانو د ساتنې او تربیې قابلې نه دي پاتې سوی او د خپل خاوند او والدینو خدمت نسې کولی -په هغو باندې د هسټریا دورې راځي او په ذهني فشارونو کې مبتلا کیدونکي دي.

## نظر بازي د ذهني انتشار او د معاشرې د فساد ذریعه ده

او بیا د ښځو له کورونو څخه وتل یوازې د هغې د صحت د تباهۍ موجب نه دی بلکې د ټولې معاشرې د سقم او بیمارۍ ذریعه جوړیږي -هغوی چې په کوم ځای باندې تیریږی نو د ډیرو نظرونو نښانه جوړیږي -د یوه نارینه په لاره کې د تللو په وخت یو په یو د نظر جذبوونکي ښیره وینې ،هغه ته په دفتر او کارخانو کې د بې پردې ګډون او خبرو اترو مواقع پیدا کیږي -او دا نظر بازي د هغه د خپلې کورنۍ نظام له منځه وړي ذهني انتشار ،د فاسدو خیالاتو پیدا کیدل ،جنسي او جذباتي بلاګانې ،د محبت او عشق افتونه -الغرض دا ټول شیان د هغوی د ذهني ګډوډۍ ،د زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پریشاني او اعصابو د خرابیدو ذریغه جوړیږي -او بیا د زړه بیماري ،جنسي او اخلاقي مرضونه ،د بصارت کمزوری ،د دماغو نه توازن ،د وینو فشار ،او عصبي مرضونړ د یوې پرده لرونکې معاشرې سره موازنه کړی او بیا پخپله فیصله وکړی.

## د تعلیم لپاره بې حجابي

بیا دا هم ویل کیږي چې د ښځو لپاره د تعلیم ضرورت دی او اقتصادي حالات د جلا تعلیم تحمل نسې کولای -لیکن اوس خبره دا ده چې هغه کوم تعلیم دی چې د ښځو لپاره ضروري ګڼل سویدی - د ښځې لپاره په اسلام کې د تعلیم تصور هغه تصور نه دی کوم چې د اروپا غربی پیداوار دی -د دفترونو ،کارخانو ،او دوکانونو فرائض ئې د دوی په ضرورت پورې نه دي تړلي -تر څو چې د هغه لپاره ښځه کلرک ( انجینره) یا مزدوره جوړه کړي -اسلامي تعلیم ښځې لره د یوې سلیقه لرونکې ،وفاشعار ،مهذب ،اخلاقي او حیاء لرونکی ذات د جوړولو لپاره دی -اسلام هغه تعلیم ته اهمیت ورکوي کوم چې ښځه د خدای جل جلاله او رسول صل الله علیه وسلم خاوند او کورنی له حقوقو او د اولاد له ښې تربیې څخه خبروي -او ددې غیږ د کوچنیانو د تربیت اوله مدرسه ثابته سې. ددی تعلیم لپاره هیڅکله دا لازم نه ده چې په مخلوطو درس ګاهو او بې حجابانه ( بې پردې) لیلیو کې د خپلې حیا ملغلره لیلام کړي -الغرض هغه تعلیم چې د بې پردګی سبب او لامل جوړیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شريعت او اسلام د هغه حکم نه ورکوي ،بې پردګي که چيري د
اخلاقو او معاشرې ،جسماني او روحاني صحت ،او د نيک سيرت
لپاره تباه کن دی نو شريعت هيڅکله د هغه طرفدار نه دی -او بيا د
ښځو د تعليم تاريخ وګوری چی کله د اسلام له ظهور څخه وروته
د حجاب ،عفت او عصمت دور راغی او ښځې پرده نشينې سوی
نو په اسلامي تاريخ کې د ديني تعليم او په علومو او فنونو باندې
ښايسته سوې ښځې راووتې چی د هغوی له علومو څخه د کور له
ناستې پوره يوه دنيا مستفيده سوه -پس که چيرې د مفاسدو او
فحشاوو له موجباتو پرته د پردې په شرعي حدودو کې دننه
مسلمانې ښځې په علم او فضل کې يوه نمونه وړاندې کولای سې
نو د مغرب په بې حياء د جاهليت په عهد کې کومې ښځې چې
دباندې و هم ووځي نو په اسلامي علومو او فنونو کې او د اخلاقو
او تربيت په تعليم کې په معاشرې کې يوه نمونه هم نسې وړاندې
کولای کومه چې په علم او حياء سره حاصليږي -کله چې په بې
پردګۍ سره د سترګې اوبه له منځه ولاړې سې نو حقيقي علم او
علمي ذهنيت هم له منځه ځي. د نوي دور علم نارينوو ته پرته د
انګريزي نظام له څو پُرزو څخه نور څه ورکړه -او موږ ددې
جديد تعليم لپاره د ښځو عظمت ،عفت او عصمت هم قربان کړو.

لنډه دا چي د پردې حکم ( نعوذ بالله) نه له فرسوده روايتونو څخه
ګڼل کيږي او نه د کوم رسم او رواج په نتيجه کې پيدا سويدی.
اسلام د عصمت او عفت محافظ دی ،اسلام د فواحشو او منکراتو
هيڅکله روا دار نه دی ،چيري چې هم د فواحشو احتمالاتو زيات

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي نو د پردې په احکامو کې دغومره شدت پيدا کيږي او چيري چي د فحشاء احتمال نه وي او د عصمت او عفت زياته پاملرنه وي نو هلته د پردې په حکم کې هم نرمي او وسعت پيدا کيږي.

## د ماډرن ( جديد يا نوی عصری) د جوړيدو شوقين

پس کوم خلک چي مصلح او ماډرن ( عصری) د جوړيدو په شوق کې دي او د اسلام يو مضبوطه نظام د خپلو ژبني حملو نښان جوړوي هغوی دې د داسې اصلاحاتو انجام په يورپي او غربې قومونو کې وګوري چي هغوی د بې پردګۍ او فحاشۍ د لاسه له کوم ذلت او رسوايی سره مخامخ سويدي او بيا دې د عالم اسلام ددې ډول تش په نامه مصلحينو څخه هم سبق واخلي کوم چي په ترکيې او داسې نورو ملکونو کې د يهودو او نصاراوو د تقليد په خاطر د اسلام يو مستحکم نظام متزلزل کول غوښتل -او د هغو ادا اقدام يوې خواته د قوم د معاشرتي او اخلاقي اقدارو د بربادي او بلې خواته مصلحين د ابدي ذلت او د مسلمانو په زړونو کې د نفرت او ملامت مستحق جوړ سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لومړی برخه پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهمه فصل

## ښځه په مذهبي کتابونو او د مذهبي علماوو په آند

### ښځه په یهودیت کې:

یهود عهدنانه قدیم ،تالموداود ،د خپلو علماء اثار مني د هغو ویناوي د ښځې په هکله داسی دي:

ډاکټر (Dr. Menachem ) چې د بايبل يو فروفيسر دی او د یشوا په پوهنتون (Yeshiva University) کې ښوونکي دی ،دی پخپل کتاب (یهودې ښځه د یهودو په ادبیاتو کې داسی لیکي) ( The Jewish Woman in Rabbinic Literature)

د پخوانيو يهودي علماوو اصول داسی وعذاو داسی وه او داسی يې ويل: هغه ښځه یهودۍ لور نه ده چې د کور ځخه دباندی وځي ،پر هغه سړي دي لعنت وي چې د ښځې ویښتیان یی ځرګند ښکاري ،هغه ښځه چې د خپلې ښکلا لپاره خپل ویښتیان ښکاره کوي دا د مسکینې سمبول دی ،او دا ښځه به مسکینه او محتاجه سي.

ایا دا په واقعیت کي همداسي ده ،چې هغه ښځه چې لوځ سر ګرځي هغه به مسکینه وي؟ نه هیڅکله داسی نه ده ،په میلیونهاوو ښځې په اروپا ،آسیا او افریقا کي سرتوري ګرځي او حال دا چې اقتصاد یې هم ښه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د یهودو شرعي قانون وايي:

که چیري د ښځې بربنډ سروي ،نو په داسی حالت کي د رحمت غوښتنه کول ،یا دعا کول ،یا د خدای جل جلاله څخه څه غوښتل ،دا ټول بې ځایه او منع دي ،ځکه سر تور سر لعنت دی.

حفصه چي په اسرایلو کي یی نوی اسلام قبول کړیدی په دی باب وایی: حجاب ته قایله یم ،په یهودیت او اسلام کي پر حجاب باندی ډیر ټینګار سوی دی ،زه منم ، خو یوه ورځ مي له خپل پلار څخه وپوښتل چي ایا که ښځه په عاجزۍ سره سرتور کړي او خدای ته وژاړي نو دا به څنګه وي ؟ یهودی پلار می راته وویل چي ښځه چي هره ښځه وي هغه د خدای لعنت دی ،که حوا نه وای نو آدم به چاله جنته پسي اخیستی ، حفصه وایي په هغه شپه مي له ځانه سره زیات وژړل ؟چي ای خدایه! که مي د پلار خبره رښتیا وي نو بیا دي مونږ ښځې ولې پیدا کولو؟ دا چي مونږ ستا په هره اندازه سره عبادت وکړو بیا هم لعنت پر مونږ دی نو زمونږ راتګ دې نړۍ ته بې معنا دی.

## د یهودو او عیسایانو شرعي او مذهبي علماء د ښځې په هکله وایي:

ښځه د درواغو او دوکې لور ده ،او د دوږخ پیره داره ده ،د سولې دښمنه ده ،نو ځکه ادم جنت له لاسه ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## راهب یوحنا دمشقی (St. Jhon Damascene):

ښځه د شیطان یوه اله ده چي شیطان زموږ روحونه او ملکیتونه په ګټی.

## راهب قبرصي (St. Cyprian):

ښځه د شیطان د لاس سرچینه ده ،او ددي ګناوي د مار د شیشنی په شان اواز کوي.

## راهب انتوني (St. Anthony):

ښځه د غالبوزی په شان زهر لري ،او کرکه او نفرت یې د ښامار په شان دی.

## طرطولین (St. Tertullian)راهب جریجوري(St. Gregory)

چي و خپلې ګراني لورته یې د عقیدې په اړه خبرې کولې داسی ورته وویل:

پوهیږئ چي تاسي ښځې هره یوه بي بي حوا یاست ،ستاسي سره به ګناه ضرور وي ،غلطي به در سره مله وي ،تاسی د شیطان دروازه یاست ،تاسی د منع سوي ونې مهرمات کړ-تاسي د لومړي ځل لپاره الهي قانون مات کړ ،تاسي په هغه چا ګناه وکړل چي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه شیطان هیڅ هم نسوای کولای ،تاسی په اسانۍ سره د خدای دا
جوړ سوی ( آدم) ویجاړ کړ.

## سینټ اګستاین (St. Augustine):

د مور ، ښځې او بي بي حوا تر مینځ څه توپیر نسته ،موږ باید د
هرې یوې (ښځې) سره هوښیار اوسو ،دا ځکه چې دوئ هوس
پرسته ،او شهوت پرسته دي.

(Memories of an Orthodox youth, in Susannah Heschel, ed, On being a Jewish Feminist, New York: Schoken Books, 1983, pp. 96-97)

## د یهودو د سپیڅلي کتاب (تلمود) په آند:

ښځې نسې کولای چې تورات ووایې.

مطلب یې دا دی چې ښځې سپیڅلې نه دي ،د لعنت جال ،د ګناه
پیټۍ یې پر سر او د شیطان زانګو ده.

(Leonard J. Swidler, Women in Judaism: the Status of Women in Formative Judaism, Metuchen, N.J: Scarecrow press, 1976, pp, .83-93)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا په یهودیت کي د ښځې ارزښت دی ،ښځه لعنت ده ،ښځه د لومړۍ ګناه سرچینه ده ،هره ښځه لعنتي او ګناهکاره ده ،د شیطان زانګو ده ،د ګناه جال دی ،د شیطان یوه آله ده ،تورات نسي لوستلای ،دا ځکه چي دا چټله ده ،شهوت پرسته ده ،د هوس یوه آله ده ،که په لنډو کي دا هر څه راټول کړو نو دا به ورڅخه را ووځي چي ښځه په یهودیت کي یوه د لوبو آله ده ،باید د لوبو پرته بل کار ورڅخه وانه خیستل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښځه په عيسايت کي

دا چي عيسايانو ته ټوله بايبل مقدس دی نو ځکه لومړی به د بايبل حوالې ورکړو.

**1:** زه اجازه نه ورکوم چي ښځې دي تعليم ورکړي يا دي په خاوندانو حکم چلوي بلکې خاموشه دي پاتي سي، ځکه اول آدم پيدا کړل سو او تر هغه وروسته حوا ،په آدم دوکه ونسوه بلکې ښځه په دوکه کي سول او ګناهکاره سوه. ( اول خط د تيموتيوس په نوم 2 باب 11-15.)

**2:** ښځې دي خاموشه کښيني ،هغوئ ته د خبرو کولو حکم نسته بلکې د شريعت په مطابق دي تابعدارې اوسي ،او که هغوئ په څه ځان پوهول غواړی نو د خپلو خاوندانو څخه دي په کور کي پوښتنه وکړي ،دا د شرم خبره ده چي ښځې د کليسا په غونډه کي خبري کوي. ( اول خط د کورنتيانو په نوم 14 باب: 34-36.)

**3:** او کومه ښځه چي سر توره دعاء کوي نو هغه خپل بې عزتي کوي ځکه چي هغه د سرخريلي پشان ده ،که ښځه پوړنی نه پر سر کوي نو ويښته يې پريکړئ او که د ښځې لپاره د سر خريل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډول د شرم خبره وي نو پوړنی دي پر سر کړي.( اول خط د کورنتیانو په نوم باب 11: 5-8. )

**4:** فرض کړئ یو سړی د یوې داسې پیغلې په بې عزته کولو نیول کیږي چي کوزده یې سوې نه وي. هغه سړی دي د هغې پلار ته د مهر بیه یعني پنځوس مثقاله سپین زر ورکړي او د هغې پیغلې سره دې واده وکړي ،ځکه چي هغه یې مجبوره کړې وه چي ور سره څملي.تر څو پورې چي هغه ژوندی وي هغې ته طلاق نسې ورکولای. ( استثناء باب 22: 28-30.)

په (New International Version ) بایبل کي لیکل سوی دي که یې زنا بالجبر ورسره وکړه.

**5:** که چیري یو سړی خپله لور د یوې مینزي په توګه خرڅوي نو هغه دې د نارینه غلامانو پشان خرڅه کړي ،که چیرې هغه په یو داسي کس باندې خرڅه سي چي خپل ښځه یې کړي. ( خروج باب 21: 7-8.)

**6:** که دوه نفره یو د بل سره جنګ کوي او د یو سړي ښځه هڅه وکړي چي خپل میړه د هغه سړي څخه وژغوري او هغه سړی د تناسل آلې څخه ونیسي ،د هغې لاس پرې کړئ او په هغې باندې هیڅ رحم مه کوئ. ( استثناء باب 25: 11- 12.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځينو بايبلو کي راغلي دي چي دواړه لاسونه يې پريکړئ.

**7:** که د يو کاهن لور فاحشه سي. نو هغه خپل مقدس پلار رسوا کوي او بايد وسوزول سي. چي مړه سي. ( احبار باب 21: 9.)

**8:** هغه ښځه له مرګ څخه هم ترخه ده چي زړه يې جال وي او لاسونه يې ځنځيرونه وي. ( جامع باب 7: 27.)

او داسی نور......

اوس ددې پورتنيو فقرو څخه ثه راووتل ،په عيسائيت کي ښځه په کليسا کي د خبرو اجازه نه لري ،ښځه نسي کولای چي تعليم ورکړي، ښځه ګناه کاره ده،که يې سرلوڅ سو نو ويښتيان يې بايد وخريل سي، بې عزته دي سي، که د يوې ښځې سره زنا بالجبر وسي هيڅ پروا نلري، يو پلار کولای سي چي خپله لور د حيوان پشان خرڅه کړي، که د ښځې د نر د تناسل آلې سره په جنګ کي لاس ومښلي نو د هغې لاسونه دي پريکړل سي، که د کاهن لور يو ثه وکړل نو هغه دي وسوزول سي، او ښځه له مرګ څخه هم ترخه ده.

دا ثه حيوانيت دی په عيسائيت کي، ايا په عيسائيت کي د ښځې دغه مقام به يوه عيسائي ميرمن قبوله کړي ؟ نه هيڅکله نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ښځه په اسلام کي

**1:** الله جل جلاله فرمايي: وَقُل لِّلْمُؤْمِنَٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَٰرِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ۖ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ ۖ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ ءَابَآئِهِنَّ أَوْ ءَابَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَآئِهِنَّ أَوْ أَبْنَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ إِخْوَٰنِهِنَّ أَوْ بَنِىٓ أَخَوَٰتِهِنَّ أَوْ نِسَآئِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُهُنَّ أَوِ ٱلتَّٰبِعِينَ غَيْرِ أُولِى ٱلْإِرْبَةِ مِنَ ٱلرِّجَالِ أَوِ ٱلطِّفْلِ ٱلَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا۟ عَلَىٰ عَوْرَٰتِ ٱلنِّسَآءِ ۖ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ ۚ وَتُوبُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ

او [اې پيغمبره (ص)!] مؤمنو ښځو ته ووايه: چي خپلي سترګي تر کنټرول لاندي وساتي او د خپلو شرم ځايونو ساتنه وکړي. او خپله ځان جوړونه او سينګار دي نه ښکاره کوي، پرته له هغه چي په خپله ځرګند شي، او پر خپلو سينو دي د خپلو پوړنو پلوونه واچوي. هغوی دي خپله ځان جوړونه (سينګار) نه ښکاره کوي، پرته ددې خلکو په وړاندي: مېړونه، پلرونه، د مېړه پلرونه، خپل زامن، د مېړونو زامن (بنزيان)، وروڼه، وربرونه، خوريان، د خپلي طبعي ښځي، خپل مملوك، خپل هغه لاس لاندي نارينه چي ښځو ته حاجت نه لري او هغه ماشومان چي لا تر اوسه پوري د ښځو له پټو خبرو سره اشنا سوی نه وي، يعني په دغو ماشومانو کي جنسي غريزې نه وي را ژوندۍ سوي. او هغوی دي پر ځمکه باندي په زوره پښو وهلو سره په داسي شان تګ نه کوي چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو د پټ کړي سينګار خلکو ته معلومات وسي. اې مؤمنانو! تاسي ټول په ګډه سره الله ته توبه وباسئ، ښايي چي برى درپه برخه سي. [سُوۡرَةُ النُّور: 31]

په اسلام کي ښځو ته د حجاب (پردې) امر سويدى چي دا د دوئ پر عفت باندي دلالت کوي، داسي نه لکه په يهوديت او عيسائيت کي چي سر دي وخريل سي.

**2:** وَالْمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٍ ۚ وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَن يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ ٱللَّهُ فِىٓ أَرْحَامِهِنَّ إِن كُنَّ يُؤْمِنَّ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۚ وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِى ذَٰلِكَ إِنْ أَرَادُوٓا إِصْلَٰحًا ۚ وَلَهُنَّ مِثْلُ ٱلَّذِى عَلَيْهِنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ۚ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ

کومو ښځو ته چي طلاق ورکړاى سوى وي، هغوى دي د درېيو حيضونو موده په انتظار تېره کړي؛ او دا ورته روا نه ده چي هغه څه چي الله د دوى په رحم کښې پيدا کړي وي، هغه پټ کړي. هغوى ته هيڅکله نه ښايي چي داسي وکړي، که پر خداى او د اخرت پر ورځ ايمان لري. که د هغو مېړونه د خپلو اړيکو سمولو لپاره چمتو وي، نو د همدې عدت په دوران کي په خپله نکاح کښې د هغو د بيا راوستلو حق لري. د ښځو لپاره هم په نېکه توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هماغسي حقوق دي، لکه ښځګه چي د نارينه ؤ پر هغو حقوق دي. البته نارينه پر هغو باندي يوه درجه (فضيلت) لري او پر ټولو باندي الله غالب مقتدر او د حکمت او پوهي څښتن دی. [سُوۡرَةُ البَقَرَة : 228]

**3:** فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّى لَآ أُضِيعُ عَمَلَ عَٰمِلٍ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ ۖ بَعْضُكُم مِّنۢ بَعْضٍ ۖ فَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَأُخْرِجُوا مِن دِيَٰرِهِمْ وَأُوذُوا فِى سَبِيلِى وَقَٰتَلُوا وَقُتِلُوا لَأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ وَلَأُدْخِلَنَّهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ ثَوَابًا مِّنْ عِندِ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عِندَهُۥ حُسْنُ الثَّوَابِ

د هغو رب په ځواب کي ورته فرمايي: "زه ستاسي څخه د هيڅ يوه عمل نه ضايع کوم. که نارينه وي که ښځه، تاسي ټول ځيني د ځينو همجنس ياست. له دې امله کومو خلکو چي زما په خاطر خپل وطن پرېښود او له خپلو کورونو څخه وايستل سول او زما په لار کي ځورول سول او جګړه يي وکړه. د هغو ټولي ګناهوي به زه ورته وبخښم؛ او هغوی به داسي باغونو ته ننباسم چي تر هغو لاندي به ويالې بهيږي. دا د الله په وړاندي د هغو مکافات دي او ډېره غوره جزا له همدې الله سره ده.[سُوۡرَةُ آل عِمرَان : 195]

(c) ketabton.com: The Digital Library

**4:** وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِۦ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوا ۖ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ ۚ وَسْئَلُوا اللَّهَ مِن فَضْلِهِۦ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا

او څه چي الله ستاسي څخه ځينو ته د ځينو نورو په پرتله زيات ورکړيدي، د هغو هيله مه کوئ؛ د نارينه ؤ برخه د هغو له کړنو سره سمه او د ښځو برخه د هغو له کړنو سره سمه ده. هو، له الله څخه د هغه د فضل دُعاګاني غواړئ. په دې کښي شك نسته چي الله په هر څه پوه دی.[سُوۡرَةُ النِّسَاء : 32.]

**5:** وَمَن يَعْمَلْ مِنَ الصَّٰلِحَٰتِ مِن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَٰٓئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ نَقِيرًا

او څوك چي ښه عملونه وكړي، كه هغه نارينه وي او كه ښځه، په دې شرط چي هغه مؤمن وي، نو همداسي خلك به جنت ته ننوځي او د يوې ذرې په اندازه به پر هغو ظلم ونه شي. [سُوۡرَةُ النِّسَاء : 124.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

**6:** وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَوٰةَ وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ ۚ أُولَٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ

مؤمنان نارینه او مؤمناني ښځي، دا ټول د یو بل دوستان دي. په ښو چارو امر او له بدیو څخه منع کوي، لمونځونه قائموي، زکات ورکوي او د الله او د هغه د پیغمبر اطاعت کوي. دا هغه کسان دي چي د الله رحمت وربانديي نازلیږي. بېشکه الله پر ټولو برلاسی او د حکمت څښتن دی.[سُوۡرَةُ التّوبَة : 71.]

**7:** مَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةً طَيِّبَةً ۖ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ

هر څوك چي ښه عمل وکړي که هغه نارینه وي او که ښځه، په دې شرط چي مؤمن وي، پر هغه به موږ په دُنیا کښي سپېڅلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند تېر کړو او (په اخرت کښي به) دغسي خلکو ته د هغو اجر له ډېرو ښو عملونو سره سم ورکړو.[سُوۡرَۃُ النّحل : 97.]

په قرآن کریم کي چي چیري د نارینه بیان سویدی هلته ښځه هم ور سره بیان سوی ده، که نارینه نیک کار کوي او که ښځه نیک کار کوي، که ښځه بدکار کوي او که نارینه بدکار کوي، د حجاب ( پردې) حکم تر ښځو مخکي نارینوو ته سوی دی او په دوهم ځل کي ښځو ته سوی دی، اصلي او رښتیني مساوات او عدل په اسلام کي سته.

له دې څخه پرته د نبي کریم صل الله علیه وسلم په احادیثو کي هم د ښځو ډېر فضلیت بیان سوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم فصل

## په غرب کی د نوی مسلمانو سویو ښځو د اسلام راوړلو کیسی

د اسلام مبارک دین ورځ تر بلی مخ په زیاتیدو دی هره ورځ په ډلو ډلو انسانان په غرب او نورو کفری ټولنو کی اسلام قبلوی چی زیاته برخه یی ښځې جوړوي ځکه چي غیری مسلمی ښځی په اسلام کی هغه حقوق ووینی چی غربی ټولنی نه دی ورکړی غربیان او کفار خو هسی په خوله وای چی موږ ښځی ته ټول حقوق ورکړی دی خو اصلاً د یو حیوان پځیر استعمالیږی د لا تشریح لپاره به یی یو څو مثالونه وړاندی کړو. په غربی او نورو کفری ټولنو کی عموماً دا عادت دی چی خاوند خپلی میرمنی ته وایی چی ته ځانته ډوډی برابروه کار کوه او زه ځانته په داسی حال کی چی یو مسلمان خاوند په اسلام کی په دی آمر سویدی چی خپلی میرمنی ته د ژوند ټولی اسنتیاوی برابری کړی که یی نکړی برابری نو دا خاوند به یو ضعیف مسلمان وی.

الله جل جلاله او رسول الله صل الله علیه وسلم موږ د مور او پلار په خدمت او عزت کولو آمر کړی یو خو په کفری ټولنه کی چي کله مور او پلار بوډاتوب ته ورسیږي نو پر دوی د اوږو بار سي دوی یی بیا د بوډاګانو لپاره د جوړ سوی کور یا (Old House) ته استوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه په غرب کی په تیر فصل کی هم تشریح سوی ده نو پر همدی مثالو به بسنه وکو.

په غرب کي هره ورځ په زیاته کچه ښځې مسلمانیږی چي زیاتره یي د لوړ مقام خاونداني هم یی خو چی کله یی د اسلام سره مینه پیدا سي نو دا هره څه پریږدی او په اسلام مشرفه سي دوی خپلی کیسی هره ورځ په اخبارونو د انټرنیټ او فیسبوک پر مخ نشروی که د یوی ورځې مسلمانو سویو ښځو نوملړ ولیکل سی نو کتابونه به تری جوړ سي تاسو کولای سي د لاندی ویب سایټونو له لاری هره ورځ د نوی مسلمانی سویو ښځو په زړه پورې کیسي ولولئ او وګورې.

www.IslamTomrrow.com

www.welcome-back.org

http://www.jews-for-Allah.org

http://www.nuradeen.com

http://www.jewstoislam.com

www.Islamhouse.com

www.nunn.asia

www.larawbar.org

www.islamReligion.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د (Karima Slack Razi) د اسلام قبلولو کیسه

ما د شهادت کلمه په 20 د سپتمبر 1991 کې وویل ،ما د اسلام دري کاله مطالعه وکړل ،اسلام د ټولو بنیګنو یوه ټولګه ده ،ما په پټو سترګو ایمان نه دی راوړی، د اسلام د قبلیدو څخه مخکي چي به ما د اسلام تصور وکړ نو نژدې به وه چي بې هوښه سم، خو الحمدالله کله چي مي مطالعه وکړل سترګي مي خلاصي سوې او د اسلام نورانیت او حقانیت رابانده غلبه وکړه نو مسلمانه سوم.

### تر اسلام مخکي

زموږ په هیواد کي یوازي عیسائیت په عمومي ډول سره خلکو پیژندی،د نورو مذهبونو سره نا اشنا وه، زه خپله په دې تکل کي وم چي زه باید الهی دین ومنم، هغه دین ومنم چي د اخلاقو ضابطه ولري ، روحي سکون پکښې وي ،د ژوند تګلاره پکښې ساده او هوسا وي ،د خلکو سره تعاملات پکښې ستونزمن نه وي ،دا چي پوهنتون ته راغلم نو ماته هر څه ښه معلومیدل ،له څو مسلمانانو سره مي ولیدل چي یو له هغو څخه زما استاذ شریف ؤ ،شریف استاذ ډیري ښه خبري کولې ،الفاظ یې له معانیؤ څخه ډک وه ،ما به له ځانه سره ویل که چیري زه دده عمر ته ورسیږم ایا زه به په دې وتوانیږم چي دده په شان خبري وکړم؟ چي دا راته یوه معما وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له شریف څخه وروسته مې له نورو مسلمانانو سره هم ولیدل چې دوئ پر عقیدې ډیر ټینګ وه ،اخلاصمند وه، ربښتیني وه ،له چا څخه یې بد نه راتلل ،تل خوښ وه ،روحي سکون یئ درلودی، هر بدکار ته یې بد ویل ،له دوئ سره زما دا لیدنه په 1987 کال کې وه.

له دې څخه وروسته مې له عمران سره ولیدل ،دا زما د ورور ملګری ؤ ،دا هغه کس دی چې زه واده ور سره کوم، کله چې زما او دده توافق سره راغلی نو ده ماته وویل چې زما اولادونه به مسلمانان وي، دا چې دی ساینس پوه، ذهین او ښه سړي وو نو ما ورته وویل: که چیري دي اولاد ستا په شان پوهه ولري نو مسلمانان دي سي، ما ددې لپاره چې د خپل خاوند طبعیت معلوم کړم نو مې د اسلام مطالعه پیل کړه.

تر ټولو مخکې ما ښځه په اسلام کې مطالعه کړه، په کتاب کې به سوال لیکی وو او بیا به ځوابونه ورسره لیکي وه، ولې ښځه باید حجاب وکړي؟ ولې ښځه په کور کې کښیني؟ ولې یو کس څلور ښځې کولای سي؟ دا هر سوال که زما لپاره ستونزمن ؤ خو بل لورته هر سوال خو ځوابونه درلودل ، د بیلګې په توګه په اسلام کې څلور ښځې، دا هغه وخت روا دي چې ښځې بې سر پرسته ګرځي او خپله ډوډۍ نسي پیدا کولای، لکه د یوه لوی جنګ پر مهال ،نو په داسی وخت کې چاره په کار ده ،او په واقعیت کې ما تر اوسه داسې مسلمان نه دی لیدلی چې څلور ښځې لري. او بل دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي په 6 میلادي پېړۍ کي چي څومره وحشت او دهشت د ښځو په هکله ؤ هغه تر زغم وتلی وو، او اسلام راغلی څومره لوړ حیثیت يې ورکړ، او دا چي مخکي تر اسلام یوه کس حتی 30 ښځې هم درلودلای سوای نو ځکه اسلام هغه وحشت ختم کړ او تر څلورو پوري يې اجازه ورکړه او بس.

له دې څخه وروسته مي د قرآن کریم او د سیرتو کتابونه پیل کړه، په دوه نیمو کلونو کي مي د قرآن کریم پوره مطالعه وکړل، زه به قرآن کریم ته حیرانه وم چي څنګه د ژوند هر څه په کښې نغښتی دي، ایا داسی هم کیدای سي چي د قرآن کریم مطابق ژوند تیر کړل سي؟ تولـه هغه اشتباهات مي له منځه ولاړل چي غیر مسلمانانو به لیکلي وه چي دا کتاب قرآن کریم الهی کتاب نه دی او محمد صل الله علیه وسلم پخپله لیکلی دی، زه ورته حیرانه سوم چي 1400 کاله مخکي دومره عقل ،پوهه او زکاوت دا د انسان له وس څخه وتلی کار دی ، بلکه دا الهی کلام دی،بیا می د شهادت کلمه وویله او په اسلام مشرفه سوم.

د اسلام هر قانون مي دستور دی ، د الله جل جلاله له امر څخه راضي یم ، دا زه نه یم بلکه زما خدای زما سره ښه وکړل چي زه يې هدایت کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دوو امریکایي ننې (عیسایي راهبو) د اسلام قبلولو کیسه

### (سالی سمایل او سینتیابل)

زه د خپل اسلام راوړلو لیکنه یو څه اوږدومه ،دا ځکه چي لومړی زه لوی څښتن ته شکر ادا کوم چي په اسلام یې مشرفه او د هدایت زانګو ته یې واچولم ،او دوهم دا چي زه ددې لیکنې پر هر توري د لوی خدای جل جلاله څخه ثواب غواړم، او دا ثواب زه پر ځمکه نه غواړم بلکه په اسمانو کي یې غواړم چي د قیامت په ورځ راته په بنه راسي، ما خپله دا کیسه د یوه کتاب په بڼه هم چاپ کړیده، چي سرلیک یې دی ( کوم دین ؟؟؟ اسلام که عیسایت ؟؟؟).

زه د (7) کلونو ومه چي پلار مي ددې نړۍ څخه سترګې پټې کړې ،زما روزنه یوازي زما د مور او خاله په لاس کي سوه ،د (12)کلونو په عمر باندي چي زه هغه مهال مکتب ته تلمه، مور مي د سرطان د ناروغۍ لکبله خپله ساه په روغتون کي چي یوه میاشت داخله وه ورکړه، زما یواځینۍ پالونکې زما خاله سوه ،خاله مي ډیره هوښیاره ،مخلصه ،زړه سواندې او پوهه میرمن وه ،خو ژوند ورسره وفا ونه کړه او زه په پوهنتون کي ومه او (18)کلونو او څو میاشتو ته مي عمر رسېدلي وو، چي خاله مي هم ددې نړۍ څخه وکوچیده، د هغه وخت بدي خاطرې، افسوس، او کړاونه د ویلو نه دي او نه هم غواړم چي رڼا وربادي واچوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه بې سرپرسته،بې پالونکي او بې مشره پاته سوم، ژوند راته ډېر
ستونزمن سو ، چي ملګرې مي هم درلودلې خو څمکې راته کوم
ځای نه راکاوه، او څو واره می دا تکل وکړی چي خپل ځان
ووژنمه خو لوی څښتن مي د اجل فیصله نه وه کړې ، څرنګه چي
په پوهنتون کي (95)په سلو کي عیسایان وه، که شاګردان وه، که
استاذان وه، او که نور خلک نو څکه د عیسائیت څخه ماسیوا بل
هیڅ شی نه وو، موږ ته بایبل تدریسیده ،د پوهنتون مربوط مو یوه
کلیسا هم درلوده چي مشري یې (Pastor john) پاستر جان کوله،
دی د ښه زړه خاوند خو متعصب وو، د تور او سپین فرق یې کاوه
،د بډایه او مسکین فرق یې کاوه ،د بی وزلي او زورور فرق یې
کاوه او داسی نور، خو زما سره ډېر ښه وو ،په ده کي یوه بله
کمزوري هم وه چي دی (Gay man) یعنی همجنس پرسته وو،
واده یې نه درلودی او د لواطت سره یې زښته زیاته مینه وه، دا په
عیسائیت او کلیساء کي یوه عادي خبره ده، او نور خلک یې هم دې
ته رابلل، ما دده په غوښتنه خپل ځان International )
Catholic Association)یعنی د کاتولیکو عیسایانو بین المللي
مؤسیسې ته وسپاره، دا مؤسیسه په ټوله نړۍ کي ښاخونه لري چي
په مختلفو هیوادونو کي په مختلفو بڼو سره ځان ښکاره کوي
،مطلب مي ددي غړیتوب څخه دادی چي یو سرپرست پیداکم، څه
امتیاز پیداکم، څه اقتصادي حالت مي ښه سي، د ژوند څه کړاوونه
مي لیری سي ،د خپل دین عیسائیت خدمت وکم چي د آخرت توښه
مي سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې مؤسيسې لومړني سمينارونه پيل سول د هغو غړو لپاره چي
نوي جذب سوي وه، او موږ ته د (Bible Professors ) د بايبل د
پروفيسرانو لخوا ښوونه او روزنه راکول کېده او دا به يې ويل چي
بايد دا کوښښ وکړی چي اسلام له ريښو څخه وباسي، چي په دې
پروفيسرانو کي يو هم (D.D Josuf) وو، چي د الهياتو پروفيسر )
Doctor of Divinity)وو، ده ډېر ټينګار او اسرار په دې
(عيسائيت خپرولو) باندي کاوه، او ددې موخي د ترسره کيدلو لپاره
يې موږته د پنځو لارو چارو تربيت راکاوه:

## 1 :د تبليغ برخه:

چي په دې سره موږ داسي خپله د ځانه خرافات، کېسې، عياشۍ
ناولونه، انځورونه ،د بايبل تفسير (د کوچنيانو د پاره په بېل شکل،
د ځوانانو لپاره په بېل شکل او د پاخه عمر خلکو لپاره په بېل ،د
تعليم يافته لپاره په يوه بڼه او د بې سيوادو لپاره په بله بڼه)، ژباړه
او داسي نورځه ليکل او بيا مو خلکو ته وړيا ورکول،چي ددې
خرافاتو پر ويشلو باندي مو خلکو ته امتيازونه او څه شی هم
ورکاوه ،تر څو د خلکو پر عيسائيت باندي ښه يقين راسي، اسلام
ته بد ويل، قرآن ته بد ويل ،حضرت محمد مصطفٰی صل الله عليه
وسلم ته بد ويل چي زياته ونډه پکښې رسنيو اخيسته د پيسو په بدل
کي دا زموږ ورځنی کار او روزګار وو، د قرآن او اسلام په نامه
به مو کتابونه چاپول او يا به مو ويب پاڼې جوړولې تر څو
مسلمانان ښه ګمراه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 2 : د خلکو جذبول:

موږ به داسي خوارِه او په زړه پوري الفاظ او کلمات استعمالول چي هر چا به دا فکر کاوه چي په دې تورو کي څه جادو نغښتی دی،خو یوازي دا لاره نه وه بلکه نوري لاري هم راته وې، او هغه دا چي خلکو ته به مو پیسې ورکولې تر څو عیسائیت خپور کړي. تحفې به مو ورکولې، ښه وظیفه به مو ورکړل، او هغه مسلمان ځوانان چي پر نوې ځوانۍ باندی راغلی وه نو هغو ته مو خپل ناموس هبه کاوه، او د نامعلونه وختونه پوري به مو خپل ځانونه ورته سپارله، که په لنډو ووایم په یوه نه یوه بڼه سره مو دوئ جلبول او د دوئ د عیسایي کیدو کوښښ مو کاوه.

## 3 : دموٌسیسو له لاري د خلکو کړاوونه حل کول:

یوې خواري سیمي ته ورتلو (د بیلګي په ډول سره افریقا، د اسیا ځینې غریب ملکونه...)دا ځکه چي زموږ ښکار به همیشه په خوارو علاقو کي وو، چي تر ډیرې اندازې پکښې کامیاب هم وو، او هغو ته مو ویل چي موږ صرف د بشریت د چوپړ لپاره راغلي یو، تاسي چي هر څوک یاست ، د هر قوم چي یاست ، د هر مذهب چي یاست او د هري سیمي چي یاست موږ ته دا کوم ارزښت نلري ، او دا پوښتنه مو ورځخه کول چي څه بنیادي اړتیاوې لرئ ؟ د بیلګې په ډول سره پاکو اوبو ته ،مکتب ته ،روغتون ته ،درملتون ته ،سړک ته ،نیالګیو ته ،جامو ته او داسی نورو اړینو توکو ته ،دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ بله تلکه او دام وو ،چي خلک مو په اعتماد کي اخیستل او موږ بیا خپلو موخو ته ځانونه رسول.

## 4 : د نورو مذهبونو په ځانګړي ډول سره د اسلام نفوذ کمول:

په دې ښاخ کي موږ داسي خلک درلودل چي له اصله عیسایان وه خو موږ څه داسي روزلي وه ، چي په ښکاره مسلمانان ښکاره کیدل، دداسي خلکو ټول مصرف که د سفر وو ،که د کور وو ،که د روغتیا وو ،او داسی نور موږ ورکاوه ، موږ به ددې خلکو سره همیشه په تماس کي وو ،ددې خلکو ژوند په همدې مؤسیسې پوری تړاو درلودی ،د هغوئ دنده دا وه چي د اسلام او مسلمانانو ترمنځ واټن پیدا کړي ، او یا که یو ښه مسلمان وي هغه په یوه نامه سره خلکو ته په مرموز شکل بدنامه کړي ، او د قومونو ،مذهبونو او خلکو تر مینځ بې اعتمادي راولي ،خلک د اسلام پر ضد را وپاروي ،د بیلګې په ډول سره په 1998 کال د جنوري پر 5 د هندوانو په یوه عبادت خانه (مندر) کي زموږ یو کس چي د Black waterبلیک واټر لخوا روزل سوی وو، د وختی بم لکبله دوه هندوان ووژل او پنځه يي نور ټپیان کړل ،د عبادت خانې ښایست تقریبًا په پوره ډول لمنځه ولاړی ،موږ هلته ورسیدو او دوئ ته مو وویل چي دا (ترووریزم) دی او دا د مسلمانانو کار دی ،چي په پایله کي هندوانو د مسلمانانو پر نژدې مسجد باندی یرغل وکړی او مسجد یې شهید کړی، دری مسلمانان یې شهیدان او لس تنه سخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

زخميان سول ،موږ وخت پيدا کړی او د وخت څخه په استفاده سره مو 500 نوي غړي جذب کړل او په پوره اعتماد کي مو واخيستل ،هندوانو ته مو وويل چي موږ او تاسو بايد په ګډه کار وکړو او د اسلام ريښې به وباسو او داسی نور.....

دغه کارونه مو زيات په هندوستان ،نيپال ،بنګلديش ،تبت ،سريلانکا او دنړۍ په نورو سيمو کي په کاميابۍ سره کړيدی چي بليک واټر راسره مله وه.

## 5 : غيری انساني اخلاق خپرول، فحشي، بربنډتوب او عياشي:

ددې موخو لپاره موږ د ډيرو شيانو او تاکتيکونو څخه کار اخيستی، لومړی دا چي په کليسا کي به نر او ښځې جوړه جوړه کښينستل، چي زياتي به زموږ روزل سوي انجوني وې او هر چاته به يې د مينې غيږ ورکوله، د زبور د غزلو پر مهال به نر او ښځې سره يو ځای کيدل، هغه ليکونه چي موږ د يوه پروګرام د جوړيدو لپاره ليږل پر هغې باندي مو د کليسا په مشوره سره د يوې رقاصي انځور چاپاوه، چي د صليب نښان به يې پر سينه باندي ځوړنده وو، په بايبل کي د زنا او شرابو ډيری کيسې سته، موږ به ددې اياتو په حواله خلک دې ته هڅول چي شراب چيښل او زنا کول کوم عيب نه دي، که څه هم په بايبل کي په ځينو ځايو کي د زنا په ښکاره ډول سره غندنه سويده، خو موږ دا کار کاوه، د کرسمس په ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

به مو خلکو ته وړيا شراب ورکول، ځينو روزل سوو پيغلو به ځوانان ښکولول، او حتٰی د ځينو سيمو ښځې چي به ډيرې په ستر (حجاب) کي وې هغو ښځو ته مو پخپل طبعيت سره کالي جوړول او په تحفه کي به مو ورکول، په هغه کالو کي هر څوک داسي ښکاره کيده لکه لوڅ چي وي او په زرهاوو داسي نورو تاکتيکونو څخه مو کار اخيستی، د بيلګې په ډول سره په مذهبي مراسمو کي موږ داسي څه کول چي هغه لکه يو فلم چي وي، او خلکو ته مو داسي ويل چي دا مذهبي مراسم دي او دا افتخار دی چي بيا هر چا عملي کول.

موږ ته يو کتاب د (پر مسلمانه نړی باندي يرغل) په نامه راکول سوی وو، چي دا ددې کتاب شپږم ځل له چاپه وتل وو، دا کتاب به په (2000) ژبو ژباړل کيدی، او د چاپ شمير به يې څو ميليونه وو. دا کتاب په ځانګړي ډول سره کلبساوو ته ورکول کيدی نه هر خاص و عام ته، خو څه ناڅه بازار ته او کتابتونو ته وړل کيده، په دې کتاب کي ټولې هغه تؤطيې ليکلې دي چي څنګه عيسايي مبليغين کولای سي چي مسلمانان بې لارې کړی او بايد د کومو چلو څخه کار واخيستل سي، د بيلګې په ډول سره ددې کتاب په (47) صفحه کي ليکلې دي: عيسايی مبليغين بايد زړه وانه چوي چي ولی موږ پرمختګ نه دی کړی، بلکه موږ ډير پرمختګ کړيدی يو دا چي ښځې مو د کوره څخه را ايستلی دي او بل دا چي دوئ مو بربنډی کړي هم دي، چي ددې لارې زموږ ټول اهداف ډير ژر تر سره کيږي، او تاسی پردې باندي نور کار هم وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې کتاب په (88) او (89) صفحو کي ليکي دي: موږ بايد د ښځو د ازادۍ او د ښځو د تعليم ترنامه لاندي داسي کار وکړو چي د دوئ ځخه د خپل مذهب، وطن، دود او هر څه هير او د عيسائيت لپاره کار وکړي: په دې مقصد کي په ډيرو اسلامې هيوادونو کي موږ بريالی سوی هم يو، کله چي د ښځو څخه مذهبی روح واخيستل سي له دې ځخه وروسته هغه زموږ د لاس آلې دي، او مبليغين دي کوښښ وکړي چي د ښځو له لاري اسلامي نړی دړې وړې کړي.

ددئ کتاب په (55) صفحه کي ليکي دي:

هر انسان که نر دی او که ښځه دوه قوته لري يو د فسق او فجور قوت او بل د تقوی قوت، موږ (عيسايی مبليغين) بايد دا کوښښ شپه ورځ وکړو چي د مسلمانانو د تقوی قوت کمزوری کړو او د فسق او فجور قوت يې قوی کړو تر څو موږ خپلو موخو ته په اسانۍ سره ورسيږو.

ددئ کتاب هره جمله او کرښه موږ عملي کړل تر څو خپلو اهدافو ته ورسيږو او د کليسا د مرحمت وړ وګرځو. ( الله جل جلاله مي دي معاف کړي.(

ما خپل ټول ژوند کليسا ته وقف کړی وو او ته مي غوښتل چي واده هم وکړم او ټوله ورځ به په دئ فکر وم چي څنګه عيسائيت پرمخ ولاړسي، او اسلام څنګه له مينځه ولاړ سي: ددې کار لپاره زښته خلک ډير وه دا ځکه چي ددې تنظيم ( International

(c) ketabton.com: The Digital Library

(Catholic Association هر غړی داسي تربيه سوی وو چي هر څوک وای که چوکيدار وای، که مامور، که وزير که فوځی او که هر څوک وو نو د بايبل د خدمت لپاره يې دوې مياشتي ضرور خدمت کاوه او که يې وخت نه درلودای نو بيا به يې زښته ډيرې پيسې د شکرانې او جرمانې په ډول سره کليسا ته را استولې، هره ورځ، هره مياشت او هر کړی به نوي خلک ،نوې خبرې او نوې قومونه راتلل او شپه او ورځ به يې خدمت کاوه.

د همدې مؤسيسې لخوا موږ ته دا دنده راکول سول چي پر محمد صلی الله عليه وسلم باندي يو کتاب وليکو او هغه کتاب به داسي وي چي ټول تاريخ او سيرت به دده وي او څه به موږ يو څه شيان ور سره اضافه کړو او بيا به يې چاپ کړو، که مو په وس کي وه يو څه بد به هم وليکو چي دا زموږ ښه دنده وه او مهارت مو هم پکښې درلودی، ددې کار لپاره پنځه تنې (راهبې) او لس Monks (راهبان) وټاکل سوه.

هر څوک بايد خپل کار وکړي، او تر ټولو زموږ لپاره اړين کار دا دی چي تاريخ اسلام او سيرت النبي صلی الله عليه وسلم پيدا کړو او بيا خپل کار پيل کړو، هر چا د خپل ځان لپاره کوښښ کاوه دا ځکه چي پر دې باندې موږ ته هم د کليسا له لوري او هم ددې مؤسيسې له لورې هر څه راکول کيدل، امتياز، پيسې، سفر ،مقام او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه او زما يوې ملګرې (Nun-Cynthia Bill ) راهبې سينتيابل، سره ملګرې سوو، اسلامي کتابتونو ته او د کتاب پلورنځيو ته ولاړو او په پايله کي مو دا دوه کتابونه پيدا کړل،

(Muhammad Is The Seal of Prophets)او

(Prophet Muhammad And His Lifestyle)

يعنی اول کتاب ( محمد صلی الله عليه وسلم خاتم الانبياء دی) او دوهم کتاب ( محمد صلی الله عليه وسلم او د هغه ژوند) په خاتم الانبياء کتاب کي دا بيان سوی وو چي حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د ټولو پيغمبرانو اخيری پيغمبر دی او بل پيغمبر نه راځي او د الهي وحي دروازه بنده سوه، او نور ددې دين (اسلام) چلول ددې امت د علماء کار دی؛ او دا پيغمبر يو نړيوال پيغمبر دی، نه دا چي د يوه قوم او يا يوې ژبې لپاره دی، دا ټول انسانيت ته راغلی دی، برخلاف د مخکنيو پيغمبرانو څخه. مخکني پيغمبران چي هر څه تير سويدي د حضرت آدم عليه السلام څخه نيولې تر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم پوري هغه ټول پخپلو وختونو کي د ځانګړو او مشخصو قومواو علاقو لپاره وه، د بيلګې په ډول سره حضرت ابراهيم عليه السلام يو ځای وو، او حضرت لوط عليه السلام بل ځای او په بله سيمه کي وو، عاد قوم ته يو پيغمبر وو او د ثموديانو قوم ته بل پيغمبر وو، حضرت موسی عليه السلام يوازي بني اسرائيلو ته وو، حضرت عيسیٰ عليه السلام هم يوازي بني اسرائيلو ته وو، او داسی نور چي ډير پيغمبران

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسرائيلو ته رالیږل سوی وه، نه د ټولو خلکو لپاره، ددې کتاب په (23) صفحه کي پردې باندی هم ډېر څه لیکل سوي دي چي د بايبل او قرآن دواړو په تاکيد حضرت عيسٰی عليه السلام يوازي بني اسرائيلو ته رالیږل سوی وو چي د قرآن کريم او بايبل دواړو څه حوالې يې ورکړي وې.

دا لومړی شک وو چي زما پر عيسائيت باندي پيدا سو، چي عيسايان وايي چي دا نړيوال دين دی او په مقدسو نسخو کي د پردې و شاته بل شی دی.

په دوهم کتاب کي د نبي کريم صلی الله عليه وسلم پر ژوند مبارک، سيرت او صورت باندي رڼا اچول سوې وه، او دې خبرې زما روح تازه او وژړاوه، چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم ډېر ساده ژوند درلودی، د کور کار يې خپله کاوه، خپل مبارکي جامې يې پخپله ګنډلې، خپلې مبارمې څپلۍ يې پخپله جوړولې، او څاروې يې لوشل او داسې نور....دا هغه څه دې چي کا پخپل ژوند کې نه وه اوريدلې، دې څو ټکو پر ما دومره اغيزه وکړه چي د سترګو مي بې اختياره اوښکي وبهيدلې، او ارمان مي دا دی چي کاش!!! زه په هغه وخت کي ژوندۍ وای او دده مبارک صلی الله عليه وسلم کالي مي پخپلو ګوتو وينځلي وای، او دده مبارکې څپلۍ مې پخپلو لاسو باندي ګنډلي وای او دده مبارک په خدمت کي مړه سوې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا زما د ژوند دبدلون دوهمه څپه وه، ددې کتاب په آخری پاڼه (102) کې د لوړې درجې والا پېغمبرانو یو نوملړ هم خپور سوی وو، چې حضرت عیسیٰ علیه السلام هم پکښې وو.

اوس مې د مطالعې مخ بل لوري ته وا وښتی او غوا‌ړم چې دا معلومات پیدا کم چې د حضرت عیسیٰ علیه السلام مقام په اسلام کې څه دی؟

خوشبختانه زما یوې مسلمانې ملګرې د جنوبې افریقا د ډربن د ښار څخه د شیخ الاسلام مناظر اسلام مرحوم شیخ احمد دیدات صاحب یو کتاب

چې د (Christ in Islam) یعنی (عیسی علیه السلام په اسلام کې) را ولیږه چې د (IPCI) یعنې (Isalam Propagation Center International) لخوا چاپ سوی وو، ډیره مرسته یې زما سره وکړل، چې په هغه کې لیکلي وه چې یو مسلمان مسلمان کیداې نسي تر سره مور زاده ړانده، د پیس ناروغان، د جذام ناروغان او مړي ژوندي کول او داسی نور..... څو په دې ایمان ونه لري چې حضرت عیسی علیه السلام د الله جل جلاله یو لوی پیغمبر او هغه د لوی خدای جل جلاله په امرهره کړښه چې وایم په زړه کې بدلون احساسوم او زه په دې باندې راضې هم یمه، دا ځکه چې مور‌ن عیسایان خو د اسلام څخه بد وړو، د قرآن څخه بد وړو، او نو ځکه پر پېغمبر یې هم بد وایو، نو ما دا فکر کاوه چې مسلمانان به څومره حضرت عیسی علیه السلام ته بد وایې، خو زما د تصور

(c) ketabton.com: The Digital Library

برعکس په اسلام کي حضرت عیسی علیه السلام ته داسی مقام او حیثیت ورکول سوی وو چي په عیسائیت کي یې نلري، دا ځکه چي په اسلام کي یې مقام اوچت او ریښتنی دی، که یو څوک د حضرت عیسی علیه السلام او یا هم د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم څخه منکره سي چي دوئ پیغمبران نه دي، هغه له اسلامه وتلی دی او کافر دی، بلکه په اسلام کي د دوئ په هکله تصور داسی دی چي دوئ رالیږل سوي استازي، او بنده ګان وه؛ نو ځکه زه دا احساس کوم چي دوئ سره ورونه دي؛ او هیڅ فرق یې نسته، اوس یو شی زما لپاره. ډیر اړین دی چي هغه د بایبل مکمله مطالعه ده او هغه ایتونه پیدا کړم چي پکښې ویل سوي دي چي عیسی علیه السلام یوازي یهودو ته راغلی دی، د بایبل د مطالعې څخه چي ما مخکي ددې ............. له دې څخه وروسته مې دا ټینګ هوډ وکړ چي اوس به څرنګه مسلمانه کیږمه؟ د خپلې ملګرې سره مې دا خبره شریکه کړه، هغې راسره ومنله خو یوه خبره یې دا راته وکړه چي کلیسا اوس په موږ. څومره پیسې او وخت مصرف کړیدی، او د کلیسا ټول رازونه زما او ستا په سینو کي دي، کیدای سي اسلام راوړل زما او ستا د مرګ سبب سي، نو یوه معقوله لاره به ورته وسنجوو، او ښه طریقه یې دا ده چي د مسلمانانو سره په دې اړه مشوره وکړو، نو زه یوازي په امریکا کي د مسلمانانو ټولنې ته ورغلمه چي مشر یې نه وو او مرستیال یې چي یو تور پوستی امریکایی وو، ور سره ولیدل هغه ډیر هدایات راته وکړل او لارې یې راته وښودلې او دا یې هم راته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وويل چي موږ به رسنيو ته خبر ور کړو، او تاسی به دا وواياست چي موږ پخپله خوښه اسلام قبول کړی دی، او کيدای سي چي عيسايان کوم عکس العمل ونه کړي او که څه عکس العمل وکړي نو ستاسو ساتنه او هر څه زموږ دنده ده، چي په نتيجه کي زه او زما ملګرې دواړو اسلام قبول او ايمان راوړی او د شهادت کلمه مو وويله؛ د اسلامي ټولنې او د مسلمانانو ورونو د مشورې سره سم به د کليسا تر شا د ټولو رازونو څخه پرده پورته کړو، چي دا به د لومړی ځل لپاره پر انټرنيټ او بيا په مجلو او په دريم ځل د کتابو په بڼه خپاره سي، يو ارمان مو سته هغه دا چي د اسلام، قرآن او مسلمانانو ورونو د چوپړ وياړ راپه برخه سي.امين

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د یوی ارکنساسې خور عابدې د اسلام راوړل:

زه د ارکنساس یم مور او پلار مي عیسایان دي، په اصل کي زما کورنۍ د جنوبي سیمو څخه د امریکا د متحده ایالاتو ته راغلي دي، زما ژوند په صحرا پوري تړاو لري، زما پلار مُعمد (Baptist) ؤ، یعني هغه څوک چي خلکو ته بپتسمه ورکوي، د عیسایانو ددې ټولني مشر هم ؤ، په دې ټولنه کي کاتولیکان،میتودستان او نور هم شامل وه، که دوئ ظاهراً ټوله سره عیسایان یادیږي خو په اصولو کي سره توپیر لري، لکه په مسلمانانو کي سُني او شعیه او زه پخپله سُنی یم، په کومه سیمه کي چي زه اوسیږم دا ټول سپین پوستي عیسایان دي، له همدې کبله دلته د عیسائیت څخه ماسیوا د بل دین تصور هم ناشونی دی، خو بل لور ته زه تل په دې آند وم چي ټول انسانان سره یوشانته دي، د خدای په حضور کي، باید رنګ، نژاد، کلتور او مذهب ته توجه او اهمیت ور نه کړل سي، خو ډیر ژر پوه سوم چي رنګ، نژاد، قومیت خو ارزښت نلري خو مذهب یوازینی د خلاصون لاره ده، لومړی مسلمان چي ما ولیدی هغه د ارکنساس د پوهنتون په کالج کي وو، هغه یوه فلسطینۍ ښځه وه، چي حجاب یې کړی ؤ، سر یې پټ ؤ ، ددې د تګ، خبرو او کالو بڼې زما په زړه کي ځای پیدا کړ، الحمدالله، دا به زما تر مرګه هیره نسي، ما ساعتونه ساعتونه ور سره تیر کړل چي د دوئ د ښار، کلتور او نورو حالاتو په اړه مي معلومات ورڅخه تولوه، تر ټولو زیات ماته د هغې مذهب (اسلام) وو، دا په

(c) ketabton.com: The Digital Library

باطن کي ډيره مطمئنه وه، سرګردانه نه وه لکه زموږ د ټولني عادي ښځي، زما ډير شه په ذهن کي دي چي دې راته د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم او د خدای جل جلاله په هکله ويناوي او خبري کولې.

زه په دې مطمئنه سوم چي ما مخکي لا چي عيسايي وم ډير سوالونه مي په ذهن کي درلودل هغه دا چي زه ولي د حضرت عيسی عليه السلام عبادت کوم ؟ ولي په مستقيم ډول سره د خدای عبادت نکوم ؟ ولي د تثليت پر ځای له خدای سره اړيکي نه نيسم ؟ ايا بيله حضرت عيسی عليه السلام څخه خدای زما ګناهونه نسي معافولای ؟ ولي زه په صليب ځان و جنت ته رسوم؟ ايا بله لاره نسته چي په مستقيم ډول سره جنت ته ولاړه سمه ؟ ايا کوم اخلاقي فساد چي د کليساوو په راهبانو کي دی دا به د حضرت عيسی عليه السلام لارښووني وي ؟ ايا د ماشومانو سره لواطت روا کار دی ؟ واده د ژوند يوه اړتيا ده،ولي په واتيکان کي واده نسته؟ اولاد نسته ؟ ماشوم نسته ؟ ايا دا فطري عمل دی که حيواني؟ دا هغه پوښتني وې چي زه تل بې قراره وم، نو ځکه ددې فلسطينۍ خور هره خبره زما د زخمونو درمل وه، زما دې خور به ماته ويل چي اسلام يوازينی الٰهي دين دی، صرف اسلام کولای سي چي جنت ته دي بوځي او بس، دا 6 مياشتی وروسته د خپل کور مخته په شهادت ورسيدله، هغه ورځ چي دا رخصتيدله نو ماته يې په خوښۍ سره وويل چي ما او تا به بيا په جنت کي سره وينو ؛ دا جمله مي تر اوسه پر زړه باندی نويشته ده، دې خپل ځای ليدی نو ځکه يې ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د جنت توصیه کول، کله چي ما خپله یوه ملګریه له لاسه ورکړه نو په دې لټه کي سومه چي نور ملګري په منځنی ختیځ پیدا کړم، د ملګرو د پیدا کیدو څخه وروسته مي له عربي سره ډیره مینه پیدا سوه، د قرآن کریم د تلاوت اوریدل مي د روح غذا وګرځیدله، که څه هم تر اوسه پوري په قرآن کریم نه پوهیدم، اوس یوازي بسم الله ویلای سم خو هغه خوند چي زه له قرآن څخه اخلم هغه ډیر سپیڅلی او روح تازه کونکی دی، کله چي زه د کالج څخه فاریغه سومه نور نو په ټولنه کي د مسلمانانو سره اړیکي کمزوري ښکاریدې، خو بل لورته د مسلمانانو مینه، اخلاص او د عربي ژبي سره زما خاص ذوق نه هیریدونکی دی.

د 1995 میلادی کال په پسرلي کي یو کس زما په ژوند کي انقلاب راوستی، دا داسی کس ؤ چي ښایي ده زما ټولو پوښتنو ته ځوابونه راکړل ،د 8 میاشتو په جریان کي مي هر څه مطالعه کړل، کتابونه مي ولوستل، ږغیز تقریرونه مي واوریدل، په پای کي د فبروری پر 5 مه په 1996 میلادي کال کي په رسمي ډول سره په اسلام مشرفه سوم الحمدالله ،پر ځان مي نوم عابده کیښود دا ځکه چي له خدایه غواړم چي د خدای جل جلاله عبادت په اخلاص سره وکړم او آخرت مي سم سي.

د کوم امریکایي عیسایي سره چي ما کوزده کړې وه هغه ماته سوه، خپلوان، ملګري او نور مي ټوله پریښودل خو تر اسلام نسم تیریدلای، کله چي به ما ویل چي زه د عرب او یا هم بل خاریجي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کس سره واده کوم نو زما ټوله کورنۍ به زما څخه خوابدي سول، خبري به يې نه راسره کولې، دوئ په لومړيو ورځو کي زه د اعصابو روغتون ته داخلولم ما ورته وويل چي په ما هيڅ نه دي سوي، ما د عقل سليم په تقاضا سره اسلام قبول کړيدی، کله به ملګرو راته ليونۍ ويله،دا هر څه تير سول ،خو زه بيا هم له خپلي کورنۍ سره مينه لرم او تر اسلام نسم تيريدلای.

کله چي په سعودی عربستان کي بمي چاودنه وسوه او زما اکا او د اکا زوی پکښې مړه سول نو بيا مي کورنۍ راته وويل چي اسلام پريږده دا د ترهګرو دين دی ، دا داسي دی لکه تا چي دا کسان وژلی وي، خو الله جل جلاله راسره مل ؤ، دوئ په ما هيڅ هم ونکړل، د ژوند. بله ترخه مي دا وه چي په سعودي کي تر بمي چاودني څلور ورځي وروسته زه ماپښين کورته ولاړم، يو چا زما پر کور باندي حمله وکړه، پر کلکين باندي ليکلي وه (د ترهګرو سره مينه لرونکې) د ډزو اوازونه مي واوريدل د کور ټول کلکينان يې رامات کړل ،په کور کي يې ټوله حيوانات ووژل، زه د کور څخه دباندي راووتلم او خدای جل جلاله ته پر سجده سوم او د خدای جل جلاله څخه مي د مرستي غوښتنه وکړه، پوليس راورسيدل زه په يوه محفوظ ځای کي کښيناستم کله چي پلټنه تر سره سول او پوليسو زه وغوښتلم نو ما ورته وويل چي زما په کور کي دا يو ترهګريز عمل تر سره سويدی او دا زما عيسايی ملګري دي، کيدای سي زما د مرګ تږي به وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله ورځ د موټر په تم ځای کي پر ما باندي حمله وسوه، ده غوښتل ما ووهی خو داسي ونسوه دا کس نابلده او نااشنا ؤ زموږ په دي سیمه کي عرب او یا نور مسلمانان راته نژدې نسته، هغه مسجد چي ماته نژدې دی هغه زما څخه 120 میله لیري دی، دا چي زه یوازې یم تکلیفونه راکول کیږي او زه په دې باندي خوښه یمه چي الله جل جلاله راسره دی او زما مرسته کوونکي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د رپ موزیک د وتلې فرانسوی سندرغاړې (Diams) ډیامز د اسلام قبلول:

په فرانسه کې د رپ موزیک وتلې سندرغاړې میلاني جورجیا چې په (Diams) مشهوره ده، څه وخت وړاندې په ناڅاپه ډول د درو کالو وروسته په یو فرانسوي تلویزیوني چینل (TF1) کې په حجاب کې راښکاره سوه، او د خپل اسلام قبلولو اعلان یې وکړ.

هغې پخپله مرکه کې وویل چې د اسلام تر قبلیدو مخکې یې د اعصابو د کنټرول او زړه خوشحاله کولو او ځان د لیونتوب څخه د ژغورني په خاطر ډیري دواوي خوړلې، خو ژوند یې ټول د یوې ملګري خبري ور بدل کړ، هغې ورته وویل: سمده ، زه ځم لمونځ کوم او بیا درته راځم.

ډیامز زیاته کړه، چې د اسلام قبلولو پریکړه یې شخصي او د خپلې ژورې مطالعې او د قرآن کریم د لوستلو وروسته وکړه، او دا چې اسلام یې قبول کړی، د هغه وروسته یې په ژوند کې سکون، راحت او استقرار راغلی، او وېل: (( دې اسلام قبلولو)) زما زړه ته شفا ورکړه، زه اوس پوهیږم چې د ځمکې پر سر څه وکم او پوهیږم چې زه ولې دلته یم، خپل د اسلام د قبلولو د تفصیل په اړه ډیامز وویل:

زه ډیره مشهوره وم، او ما هر هغه څه لرل چې هر مشهور سړی یې تمنا لرل، خو پر دې سربیره چې زه به کله یوازې له ځانه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وم، په ډېر درد او شدت سره به مي ژړل، زما په دې حالت زما مينه وال نه وه خبر.....ما ډيري رنګا رنګ نشيي او غير نشيي ګولۍ خوړلې، څو ځله مي په عقلي او دماغي روغتون کي ځان بستر کړ، تر څو جوړه سم، خو ټولي هڅي مي هسي بې فايدې وختلې.

او زياته يې کړه: زه يو ځل د خپلو ملګرو سره يو ځای وم ،په هغوئ کي يوې مسلماني راته وويل: سمده زه ځم لمانځه ته او بيا به راګرځم ، ما ورته وويل چي زه هم غواړم لمونځ وکړم، هغې جواب راکړ، چي سمده وې کړه، د لومړی ځل لپاره مي خپل تندی پر ځمکه کيښود، او په لومړی ځل مي داسي احساس وکړ چي مثال يې نه وو....اوس دا فکر کوم چي سجده او تندی پر ځمکه لګول بايد يوازي او يوازي د الله لپاره وي.

د يادوني وړ ده چي په فرانسه کي مسلماني ښځي نسي کولای چي په حکومتي او غير حکومتي مکتبو او ادارو او حتی بازارونو کي حجاب او يا علی الاقل خپل د سر ويښتيان د اسلامي احکامو سره سم پټ کړي او د مخالفت په صورت کي مسلماني ښځي د بند يا جرماني سره مخ کيدلای سي.

آغلي ډيامز په دې اړه وويل چي د حجاب په اغوستلو دا د نقد پروا نلري، خو دا انديښمنه په دې ده چي په فرانسوي ټولنه کي اسلامي لباس ته ښکنځل کيږي، پر اغوستونکو يې رنګا رنګ احکام صادريږي، او په مختلفو نومونو نومول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او زياته يې کړه: کله چي ما اسلام قبول کړ، او ددې تر مخه چي حجاب پر سر کړم، ما به له ځانه پوښتنه کول، چي ايا واقعًا به زه خپل سر او ويښتيان د اسلامي احکاماتو په رڼا کي پټ کړای سم.....يو ځل د درياب پر غاړه يوازي ګرځيدم، له ځان سره مي وويل: چي ددې لوی درياب او لمر پيدا کونکي خالق په حجاب امر کړيدی ،نو يې څرنګه امر نه منم، او ددې فکر وروسته مي دستي د حجاب اغوستلو پريکړه وکړه.

د خپل نوي ژوند په اړه يې وويل چي د کال ښځه د څه زياتي مودې راهيسي يې واده کړی، د څو مياشتو ښځه مور سوې هم ده، او ډېر خوشحاله او خوندور ژوند تيروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نوي مسلماني سوي کاناډايي خور اليزابت د اسلام راوړلو کيسه

اسلام د الله تعالی دين، د نړی قانون، او يوه کامله، شامله، عامه او جامع تګ لاره ده. نو ځکه د ټولو د توجه وړ، د کفارو تشويش او حقاني دين پيژندل سوی.

له هغو ټولو څخه چي هره ورځ و باطلو، فاسخو او وضعي اديانو ته شاکوي او د مبارک، سپيڅلي، الهي او درست دين پر لور را درومي يوه هم نوي مسلمانه سوي خور اليزابيت ده، چي د کاناډا هيواد اوسيدونکي ده.

### دا خپله کيسه پدې ډول بيانوي:

مخکي ترديې چي زه د اسلام په مبارک دين مشرفه سم؛ زه زياته خبري کوونکي، خندونکي، ټوکي ټکالي کوونکي انجلی وم. خلکو به زما پر شا او خوا او زما سره پر مجلس کولو او خواله کولو خوند اخيست او ما هم دا زمينه جوړول چي خلک راته غوږ کښيږدي، راسره و خاندي او توجه راته وکړي. کله چي ما د اسلام تعقيب او پلوی شروع کړ؛ خلکو دا نه خوښول، حقيقت کي دوی بي رحمه دي ان ترديې چي هغوی چي تاته تر هرچا نږدي وه اوس درته بد ګوري، دا هغه خلک دي چي زما هرڅه وه، زه د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرڅه وم خو اوس ځکه راته په بله سترګه او نظر ګوري چي نن ما هغه څه نه دي اغوستي چي دوی به پخوا لیدل، نن ما حجاب کړی دی.

د الیزابت په وینا چي دې د دیارلس کلنۍ څخه د اسلام مطالعه او کتنه شروع کړي، کله چي به استاذ د کوم تحقیق غوښتنه کول نو الیزابت به همیشه د خپلي پلتني موضوع اسلام ټاکی.

سربیره پردې چي د اسلام سره یې ستونزي درلودي خو بیا هم چي هرڅه به یې موندل ورته حیرانه به پاتیدل او قناعت به یې وربانديي حاصلوی.

الیزابت به خپل د ماشومتوب او کورنۍ حالاتو ته کتل او یو عالم سوچونو او فکرونو به بدرګه کول چي: "کچیري زموږ کورنۍ مسلمانان وای نو موږ به څنګه وای؟ "

دا وایي: " ما به خپل ځان د مسلمانانو سره پرتله کوی او د ځان سره به مي ویل چي کله به هم زه د دوی په شکل سم؟" دا زما د ژوند یو ناڅرګند هدف وو. که څه هم کلونه کلونه مي اسلام مطالعه کړی وو خو بیا مي هم یو قاطع تصمیم نه سوای نیولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کورنۍ تاو تریخوالی او د اسلام څخه مخکي ستونزمن ژوند

د خپلي کورنۍ او مخکيني ژوند په هکله اليزابت وايي: په داسي کورنۍ کي مي ژوند کاوه، چيري چي نه قانون او نه مينه. ما او خوندو به په خپل منځ کي يو د بل سره وحشي اوتېزه رويه کول، يو د بل ساتنه او خيال مو  نه کوى، په هفتو به کور ته نه راتلم، کله چي به کورته راغلم چا دا پوښتنه نه کول چي: چيري وي؟  څه دي کول؟ ...؟

هرڅه چي مي غوښتل؛ کول به مي، او څه چي ما کول د هغه په مقابل کي تر اوس پوري يو ځل هم مور او پلار نه يم جزائي کړي او نه چا راته دا ويلي: مه کوه!!. پلار مي شراب څيښل او مور مي په نشيي موادو روږده وه. زه او خوندي مو د ژوند د سختيو سره عادت سوي وو. کله کله به مي ويل: ژونده!!! تکليف را کوي.!!!

داسي ډير ماښامونه مي پياديږي چي پلار به مي وحشي او ډارني چيغي، ناري او ورکي، سپوري ويلي، مور به مي ژړل او پر مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

به يې زما د پلار د وهلو او ډبولو زخمونه وه. مور به ورته په زاريو او ژړا ويل: نور د مور وهل او ټکول پرېږده.!!!

دا هرڅه به مي څنګه حير سي؟ زه او دري خوندي په يو وحشي کورنۍ کي را غټيدلو. خپل کور، ژوند او هري ورځي ته به مي کتل، داسي به ښکاريدل چي زموږ په منځ کي يو څه ورک دي. يوه سوم چي هغه ورک شی د الله ﷻ سپيڅلی لار وه.

ژوند به مي څومره توپير وکړي د دا دين او لاري سره؟ بس داغه يو فکر مي کوی.

يوه ورځ سهار وختی چي لا پلار بيده وو، مور مي غوټه راټوله کړه او موږ خوندي يې تر کور په پټه را و ايستلو. دا مي ښه پيادېږي چي موږ په کوڅو کي بربنډي پښي ځغستل، مشري خور مي زما لاس نيولی وو، ما ورڅخه پوښتنه وکړه: چيري ځو؟ دې جواب راکړ موږ له کوره تښتو.

لا ډير وخت نه وو تير سوی چي د پلار په بندي کيدو دا ظلم او بربريت پای ته ورسيد. موږ د ښځو له يوه پنا ځای څخه بل ته تلوو چي په پای کي په يوه غريبه ټولنه کي د ژوند کولو لپاره تم

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوو. هلته زه پدط پوهیدم چي یوازي زه نه ډیر خلک د ژوندانه له دا ستونزي سره مخ دي.

د کاناډا اکثره خلک دا ستونزي لري. دوی ټول په حرامو کي ژوند کوي. ددې ستونزو د حل لپاره یوازی همدا یوه لاره ده چي د یوه حقیقي خالق یوه حقیقي لاره خپله کړي او دا نظر زما سره مل وو او مل دی.

د ورځو په تیریدو سره موږ بیرته د ښځو د امن ځایونو څخه بیرته خپل والدینو ته ور وګرځیدلو.

د نوي ژوند و شروع کولو ته ضرورت وو. خو راته معلومه نه وه چي څنګه یې شروع کړو؟ د کوم ځای څخه یې شروع کړو؟ او زما په اند یوازینی لار د خدای څخه مرسته غوښتل او تسلیمیدل وه. نو مي د خدای ﷻ څخه وغوښتل چي راته هدایت وکړي، د تاریکیو شپي مي را سهار کړي او د بربریت له شیبو مي را واباسي. نو هغه وو چي الله ﷻ راته هدایت وکړ او د اسلام په مبارک دین کي مي خپل لومړي ګامونه داخل کړه. او دغه د اسلام پر لور زما ښایسته او خوږ سفر وو.

اسلام ته راتګ زما د ژوند تر ټولو بهترین تصمیم وو. داسي الفاظ نه لرم چي ددغي ورځي احساسات په وښیم، دوا مي و موندل او د راحت احساس مي وکړ. د لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللّٰهِ د کلیمي ویلو سره سم مي بدن لړزي واخیست ، د خوشحالی اوښکي مي پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ راغلي، ځان مي يو نوی څوک احساسوی، اميد او هيلي مي و مونډلي، په ژوند کي مي د اميد او هيلي اول ځل وو او خپل تير وخت مي تر شا پريښود. او دا فکر مي کوی:" چي اوس دې د ښه ژوند موقع په لاس راوړل"

## ژوند په اسلام کي

اسلام ته په راتګ سره اليزابت نوي نوي څه او د مسلمانانو مينه، عزت، ملګرتيا او انسانيت وليد، دا کيسه کوي: " په کراره کراره مي مسلماني خوندي ملګري کيدلي، ځان مي په يوه اړيکه کي احساسوی، مينه او عزت مي تر سترګو کيدی. له ځان سره به مي ويل: " ما کورنۍ پيدا کړل، اسلام غوندي غټه کورنۍ"

ما هغه مينه احساسول چي دوی له ما سره کول، کله چي پدې پوه سوم چي له دغو خلکو سره زما د ساتني خيال ورسره دی نو خوشحاله کيدم، هرکله چي به ما اسلامي لارښوونو ته ضرورت درلود يا به مي خبري کول غوښتل نو مسلمانانو به په ښه رويه راسره خبري کولي. زه تر حد ډيره خوشحاله او مننوی يم، الحمدالله و ماته د يوازيني رب الله ﷻ لخوا هدايت وسو. او زه پدې کي شک نه وينم" .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## حجاب

حجاب د اسلام ارزښتناکه برخه ده، هره ښځه پدې ماموره ده چې د الله ﷻ د رضا، خپلي حیا او پاک لمنۍ په خاطر یې په خپل ژوند کې عملي کړي. الیزابت خور د حجاب په پاللو کې راحت، ازادي او مسؤلیتونه ولیدل، دا وایي: په کومه ورځ چې ما اسلام ومنی له هغي ورځي څخه مي حجاب هم پر مخ را ځوړند کړی، حجاب بند نه ازدي ده، ما د خلکو د فیشن او سټایل پروا ونه ساتل او نه مي د هغوی په هکله فکر وکړ ځکه ما نه غوښتل چې د خلکو د تقاضا لپاره ځان جوړ کړم. حجاب زه تغیره کړم، و ماته یې حیا را وبخښل او حجاب ماته هره ورځ دا را په زړه کوي چې زه ډیر مسؤلیتونه لرم.

## د مسلمانانو احترام

الله ﷻ انسان د عزت څښتن پیدا کړی دی، پر ټولو مخلوقاتو یې اشرف ګرځولی، مینه یې ورښودلي، عزت یې ورته بیان کړی نو نه ښایي چې انسان د بدو طرف اختیار کړي، ګناهونه خپل کړي او په بې حیایې کې غرق سي، الیزابت د مسلمانانو د ژوند چارو، بو دبل سره د مخ کیدو او عزت ورکولو په هکله وایي: " یوه ورځ زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر داسي لار تیریدم چیري چي د ځوانانو ګڼه ګونه وه، ما و دوی
ته کتل دوی زما لپاره لاره خالي کول تر څو زه په عزت او امن
تیره سم، ځینو خو زما د تیریدو پر مهال خپلي خبري قطعه کړی
او خاموشي یې اختیار کړه، نورو بیا خپل سیګریټ تر شا پټ کړه،
زه د بس و تم ځای ته ولاړم هلته مي یو زوړ بوډا ولیدی په مسکی
مسکی کیدو سره یې د پلار مینه راکړه. خلکو زما په هکله ښه
فکر کوی او ماته ځان ډیرمحترم ښکاریدی" .

## الله ﷻ ته د نږدی کیدو وسیله

انسان د الله ﷻ ښایسته مخلوق دی، انسان د یو لړ نافرمانیو
ترڅنګ خپل د رب سره مینه لري، هغه ته د نږدي کیدلو هڅه
کوي او غواړي چي تل د الله ﷻ په رضایت کي ژوند وکړي.
الیزابت خور تر کوښښ او هڅو وروسته دې نتیجي ته رسیدلي چي
و الله ﷻ ته د نږدي کیدو لاره و مومي. دا وایي: " تر سختو
کوښښونو او ډول ډول پلټونو وروسته و توانیدم چي لمونځ په
عربي زده کړم. او پدې سره نوره هم و الله ﷻ ته ورنږدي سوم،
له کوچنیوالي چي مي کومي سختۍ، مشکلات او دردونه درلودل
هغه ټول لیري سول. حتا زه پدې هم نه پوهیدلم چي څنګه مي ټول
خفګان، دردونه او ستومانی حل سوي" .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دعوت

الیزابت چي کله په اسلام کي ښیګڼه، مینه، عزت، احترام، سکون، ارزښت او د زړه ارام و موند نو خپلي وحشي کورنۍ، ناپوهو خپلوانو او ګرانو خوندو ته یې د اسلام دعوت شروع کړ، ددې په وینا زما خوندی او مور اوس په کراره ودې ته چمتو سوي دي چي اسلام قبول کړي او تاسي ورته دعاوي کوی!

دا و خپلي کورنۍ ته ورښيي: " اسلام نه یوازي زما ژوند تغیر کړی، د روح او روان ارام یې راکړی بلکي د هغه ترڅنګ یې ماته دا احساس راکړی چي زه د عزت خاونده یم، له نورو سره مینه وکړم، حجاب وکړم، حیا وساتم، د نورو و ژوند ته ښکلا ور وبخښم نو ځکه زه تاسي ته د اسسلام دعوت درکوم" .

## پیغام

نوی مسلمانه سوی خور و نورو نوي مسلمانانو ته اګاهي ورکوي چي اسلام زموږ د ژوند رڼا ده، په پیل پیل کي مشکلات خامخا سته خو ژر پای ته رسیږي، تاسي هیڅکله یوازي نه یاست ځکه الله ﷻ همیشه له تاسي سره دی. هیڅ باک مه کوی هر څوک چي تاسي یاست او له هري خوا چي راغلي یاست د الله ﷻ پر دین

(c) ketabton.com: The Digital Library

منګولي ټینګي کړی ژر ده چي خپل اهدافو ته به ورسیږی. موږ ته د اسلام پالل سخت دي نسبت هغو ته چي له اوله مسلمانان دي، هرڅه چي غواړی په ټینګه یې و غواړی الله مهربانه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دنړۍ مشهوره ژورنالیسته ایون ریډلي څنګه مسلمانه شوه؟

له نوموړې سره اصلاح غږ راډیو همکارانو مرکه کړې وه چې څنګه یې داسلام مبارک دین ته غاړه کیښوده او دجهالت له ترږمیو راووته.دا دی د نوموړې کیسې له انګلیسي څخه پښتو ته ژباړه تاسو ته وړاندې کوو هیله ده چې دپاملرنې وړ به مو وګرځي.

پوښتنه :خپل ځان مو راته معرفي کړی؟

ځواب: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته، زما نوم ایوان ریډلي دې او د انګلستان هیواد یوه ژورنالیسته یم او هغه وخت راڅرګنده سوم چې په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو لخوا ونیول سوم.

پوښتنه: تاسې د خپل بند او اسلام راوړلو قیصه راته وکړۍ؟

ځواب: لکه څرنګه چې ما وویل د ۲۰۰۱ م کال او ۱۱-۹ پیښې نه وروسته زه افغانستان ته په چادرۍ کې راغلم او د افغانانو په اړه مالومات ترلاسته کول غوښتل، کله چې زه بیرته ګاونډي هیواد پاکستان ته تلم په یو لرې او ویجاړه لاره چې د خپلو پښو مزل زیات وو نو په یوه خره سپره سوم او دا چې کله مې د خره سپرلۍ نه وه کړې او ورسره نا بلده وم نو ترې راوغورځیدم، چادري مې لرې سوه او غربي لباس مې راښکاره سو نو د طالبانو لخوا ونیول

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوم او تر ۱۰ ورځو پورې د هغو په بند کې وم. ما به هره شپه فکر کاوه چې تر سبا پورې به ژوندې نه یم ځکه چې ما اوریدلي وه چې طالبان ډیر بد خلک دي ما به هغوئ ته ډیرې بدې ردې ویلې خو کله چې به هغوئ راتله ماته به یې مخامخ نه رالیده او اخوا دیخوا به یې کتل، زه پدې راز نه پوهیدم ما فکر کاوه چې له خجالته ماته نه ګوري ځکه وژنې مې خو خبره بل څه وه، هغوئ د اسلام او حیاء له امله ما ته نه کتل او راته به یې وییل چې ته له مونز سره میلمانه یې نو مه ویریږه او خفه کیږه بلکه ډاډه اوسه. د وخت په تیریدو سره هغوئ ما ته نور هم مهربانه ښکاریده او دا هم راته عجیبه او نااشنا ښکاره سوه هغه سلوک چې له ما سره کیده او هغه چې د ګونتنامو او باګرام له بندیانو سره کیږي ډیر توپیر لري- په ٦ ورځ یو مولوي صیب راغلو او ما ته یې د اسلام بلنه راکړه نو ما ته هم موقه په ګوتو راغله او ژمنه مې ورسره وکړه چې لندن ته له رسیدو سره سم به د اسلام په اړه مطالعه کوم- په لسمه ورځ د ملا محمد عمر په فرمان یې خوشې کړم.

پوښتنه: ددغه ۱۰ ورځو په اوږدو کې د طالبانو عمومي رویه له تاسې سره څنګه وه؟

ځواب: لکه څرنګه چې زه له غربي تولنې څخه راغلې وم نو خویونه مې هم بدل وه-کله چې به یې راته خواړه راوړل نو ما به نه خوړل او د نه خوړلو اعتصاب مې کړې وه-لږه موده وروسته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرب لخوا يو ليک راوليږل سو چې زما د خوشي کيدو په بدل کې
يې طالبانو ته د پيسو وړانديز کړې وه، هغوی دا وړانديز رد او
ويې ويل چې هر کار په پيسو نه کيږي او نه دا د پيسو خبره ده
ځکه چې په اسلامي او افغاني ټولنه کې صداقت او شرافت له پيسو
ډير قيمتي دې او زه په اسلام سمه نه پوهيدم خو له دوی سره په
لسو ورځو کې دا راته جوته سوه چې اسلام ده ژوند لاره ده چې
پدې کې د خوراک،څښاک،خوب،ناستې او ولاړې او د هر څه
لپاره ښکلي اصول سته او لکه څرنګه چې د اسلام څخه مخکښې
يوه ښه عيسوې وم او په اونۍ کې به څو ځلې عبادت لپاره کليسا ته
تلم خو اسلام د عبادت لپاره يو ښکلې تصور لري چې د ټولو اديانو
څخه غوره دې. ښه نو کله چې زه لندن ته ورسيدم نو ما پريکړه
وکړه چې زه به اسلام مطالعه کوم، ددې ۲ علتونه وه: اول دا چې
ما له هغوی سره وعده کړې وه،دوهم علت دا چې زه يو
ژورناليسته يم ددې په خاطر چې د اسلامي امت او مسلمانانو په
مشکلاتو پوهه سم نو بايد د هغوی ددين په هکله هم مالومات ولرم
نو ما د قران پاک مطالعه شروع کړه. د قران د لوستلو نه وروسته
زه حيرانه سوم چې قران هر چاته خپل حقوق ورکړي لکه د ښځو
حقوق او داسې نور...

او دا هم راته جوته سوه چې په دنيا کې د سولييز ژوند تيرولو يو
ښه لارښود هم همدا قران دې. په قران کې نه يوازې دا چې د
رسول الله(ص) په اړه ريښتوني مالومات وه بلکې د ټولو پيغمبرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

عليهم السلام په هکله پکښې ريښتوني مالومات موجود وه نو همدې
زه وهڅولم چې د پيغمبرانو په اړه نور مالومات هم ترلاسه کړم نو
دا خبره راته يقيني سوه چې محمد(ص) د نړۍ تر ټولو غوره
شخصيت وه.

پوښتنه: داسې ويل کيږي چې ستاسې له طالبانو سره مينه پيدا سوې
وه ايا دا خبره درسته ده؟

د هغوی سلوک له ماسره ډير ښه وه او ما د هغو په اړه حقايق
راوسپړل او پدې رانه ډير خلک خفه سول او ځنې اوس هم خفه
کيږي که دوی خفه کيږي دا ددوی مسله ده که له بله پلوه وګورو
کوم ظلمونه چې د امريکايانو لخوا په افغانستان او عراق کې سوي
ددوی له کړنو سره ډير توپير لري- ما يوازې حقايق راسپړلي دي
او بل دا چې زه د هغه طالبانو خبره کوم چې څه يې نيولې وم.

پوښتنه: کله چې طالبانو اسلام ته دعوت کړې نو ولې دې د
سمدلاسه اسلام ونه مانه؟

ځواب: ځکه چې د اسلام منل د زور خبره نده که چيرته مې اسلام
هغه وخت منلې هم وې نو څه موده وروسته به مې پرې ايښی وې.
نو هماغه وو چې دوه کاله مې د اسلام په اړه بشپړه مطالعه وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا مې د خپل قناعت له مخې د اسلام سپيڅلي دين ته غاړه کېښوده بله دا چې په اسلامي ټولنو کې هم څه ستونزې سته چې لامل يې اسلام نه بلکه د مسلمانانو د اسلام په هکله کمزورې فهم دی.

پوښتنه: لکه څرنګه چې پوهيږئ چې له اسلام راوړلو وروسته زياتره خپل نومونه بدلوي تاسې د خپل ځان په هکله دغه پريکړه ولې ونکړه؟

ځواب: ښه پوښتنه ده زما د نوم معنا ددينې اساساتو سره په ټکر کې نده او بل دا چې زه د پوخ عمر لرونکې ښځه يم نو پدې عمر کې نوم بدلول څه ستونزې لري مګر کله چې پاکستان ته لاړم نو هغوئ راته مريم نوم راکړ او په افغانستان کې خلکو راباندې د ملالې نوم کېښود او بيا يې راته د ملالې قيصه وکړه چې د ميوند په جګړه کې يې د انګريزانو په خلاف خپل افغان ځلمي جنګ ته هڅولي وه او په خپله مشهوره ټپه يې د هغوئ وينې په جوش راوستې چې سترې کارنامې يې وزيږولې ځه پدې هم پوهه سوم چې د غربي ټولنې د تبليغاتو پر خلاف افغاني ميرمنې څومره د ازادئ حق لري، څومره باهمته او زړورې دي نو له همدې امله ځان ددې جوګه نه ګڼم چې د ملالې نوم راکړل سي ځکه د هغې کارنامې ډيرې سترې او لوړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه: د اسلام منلو څخه وروسته ستاسې د کورنۍ او خپلوانو غبرګون څنګه وه؟

ځواب: زما کورنۍ ماته حیرانه وه چې شراب،سګریټ او نور نشیې توکي مې پرېښوده هغوی له ما څخه ناراضه سول او کله چې مې حجاب واغوست نو د خلکو غصه نوره هم راوپاریده او همدغه د ټولې غربي ټولنې تعصب دې جې له حجاب سره یې لري، دوه کاله وړاندې زه په حجاب کې روانه وم یو نشه یي راغي او پرما یې چغې کړې او راته یې وییل چې ځه کور ته دې ځه،زه حیرانه سوم چې زما ګناه څه ده چې له خپل هېواده مې شړې.

پوښتنه: د اسلام منلو وروسته له نورو کوم ډول ستونزو سره مخ سوې؟

ځواب: داسې خاصې ستونزې نه وې خو د ستونزو پر ځای څه زیاته تشویقه سوم او خلکو زه د مسلمانانو ښځو لپاره یوه نمونه وګڼلم خو زه فکر کوم چې زه نمونه نه یم، نورې ډېرې ښې خویندې نمونې شته څکه چې غرب او غربي فیمنیستان د مسلمانانو ښځو پر خلاف ډېرې دسیسې جوړوي خو دوی د تل لپاره له

(c) ketabton.com: The Digital Library

حوصلې او صبر څخه کار اخلي. بله دا چې زه د مسلمانو ښځو څخه متاثره سوې یم او هغه وخت ډېره حیرانه سوم کله چې په مصر کې د ولس لخوا د محمد مرسي په ملاتړ مظاهرې وسوې د مصر فوځ خپل د ولس خویندې او ماشومان په شهادت ورسول خو ددوی ځواب بیا هم صلحییزه وه نو زه ځکه له دوی نه زیاته متاثره سوې یم، که مونږ هم د الله(ج) په رسۍ منګولې ولګوو نو هیڅ زیان به ونه مومو.

پوښتنه: له اسلام څخه مخکښې او وروسته په ژوند کې څه توپیر ګورۍ؟

ځواب: لوی فرق دا دې چې زه منظمه سوې یم او د یو هدف درلودونکې یم اوس هم له الله(ج) څخه غواړم او دا دعاء کوم چې ما نور هم اسلام سره وتړي.

لکه څرنګه چې په ۲۰۰٤ کې حج ته تللي وم نو د راتګ نه وروسته خلکو راڅخه د حج د روحاني ګټواو تجاربوپوښتنې کولې نو ما ورته وویل چې تر ټولو ستره تجربه دا وه چې هلته مسلمانان د یوه فامیل په څېر وسیده چې زما لپاره ډیر ښه وخت وه ځکه چې د هر رنګ،قوم،نسل او ژبې وګړي موجود وه خو ټول د یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنۍ په خیر ښکاریده، مونږ ټولو په یوه ژبه چې عربي ده د الله(ج) بنده ګي مو کوله، په یو کتار کې ولاړ وو او د یو الله تعالی عبادت مو کاوه دا ښکلې حالت د اسلام له برکته دې چې د هر قوم،ژبې،نسل او نژاد خلک یې سره یو ځای کړي وه نو دغه ښکلې تجارب به هیڅکله هم زما له یاده ونه وځي.

سوال: که د شخصي ژوند په هکله مو راته ووایې؟

ځواب:زه اوس هم یوه ژورنالیسته یم خو توپیر دا دې چې مخکښې مې د اسلام خلاف کار کاوه خو اوس د اسلام لپاره کار کوم، ددې تر څنګ لکه څرنګه چې په قران عظیم الشان کې د شهدو مچیویادونه سوې نو د شهدو مچۍ مې هم ساتلي. اوس مې د یو الجیریایي مسلمان سره واده کړې چې د پښتنو په څیر خویي لري چې کله سم په غصه وي خو بیا وروسته ډیر مهربانه وي مګر زه ورسره الحمدلله خوشاله یم.

سوال: که د اولادونو په هکله مو راته ووایې؟

ځواب: د اسلام له منلو نه وړاندې مې یوه لوروه چې ډیسي نومیږي او انشاالله ډیر ژر به اسلام ومني. هغه ورځ مې هم یادیږي چې د اسلام راوړلو څخه وړاندې د ننګرهار کامې ولسوالۍ ته تللې وم او له یوې ښځې سره مې ولیدل چې ما نه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د اولادونو په اړه وپوښتل، ما ورته وويیل چې زه يوه لور لرم، هغې وخندل او راته يې وويل چې تاسې امريکيان او انګريزان صرف يو يا دوه اولادونه ساتلې سې خو افغانان الحمدلله ډير درلودلې او ښه ساتلې سو او که تاسې خپل فوځ له افغانستانه ونه باسئ نو زه به نور هم ولرم چې له خپل هيواده دفاع وکړي. ددې خبرو وروسته زه په واضحه توګه پدې پوهه سوم چې افغاني ميرمنې څه ډول چې غربيان تعريفوي ندي بلکه ډيرې زړه ورې دي. همدې ښځې ته ما وويیل چې ته داسې خبرې کوې که امريکيان خبر سي نو په زغرده يې ځواب راکړ همدا اوس دې راسي که نور څه نه وي نو د کور په لوښنو به ورسره وجنګيږم، زه په دې پوهه سوم چې غربيان هميشه د يو سم څيز غلط انځور وړاندې کوي خو هغوئ پدې نه پوهيږي چې افغاني ميرمنې يوازې په فزيکي لحاظ سره نه بلکې په ذهني لحاظه هم پياوړي دي.

سوال: په غرب کې د مسلمانانو حالت(خصوصا د مسلمانو خويندو) څنګه دې؟

ځواب: انګلستان کې ډير کم مسلمانان شتون لري، انګلستان د ۲,۵ ميليونه مسلمانانو درلودنکې دې چې سل زره يې د هماغه ځائ وګړي چې مسلمانان سوي دي خو ددوئ ژوند هلته لږ سخت سوې ځکه که يوه مسلمانه خور هلته له کوره ووځي نو سمدلاسه په نښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کيږي ځکه حجاب يې اغوستې وي، بلکه دا چې سيکولريستانو هم دوی ته يو څه ستونزې جوړې کړې دي. مسلمانان ورونه هم پدې کچه له ستونزو سره مخ دي خو د خويندو مشکلات نسبتا زيات دي.د همدې موضوع په اړه مې يو څه موده مخکښې د انګلستان صدراعظم (ډيوډ کاميرون) ته يو ليک ليږلې وه او لکه څرنګه چې تاسې اوريدلي چې د ايټاليې او فرانسې حکومتونو د نقاب اغوستل بند کړي نو ما صدر اعظم ته دا هم ليکلي وه چې زه به د مسلمانانو خويندو دفاع کوم چې نقاب واغوندي.

عجيبه خو دا ده چې د انګلستان پدې زيات شمېر نفوس کې ۳۰۰۰ نه تر ۴۰۰۰ پورې خويندې نقاب اغوندي او دوی ورسره ستونزې لري، د صدر اعظم لخوا خط تقريبا مثبت ځواب شوې وه.

دا بايد ومنو چې د اسلام او مسلمانانو خلاف په انګلستان او په ټول غرب کې دسيسې رواني دي او دې ته ورته خلک د پاکستان او افغانستان په ټولنو کې سته چې ددين په کاليو کې پټ ندي او کوښښ کوي چې د خپلو کارونو څخه امريکايان او غربيان متاثره کړي، زه ددوی په دغه حالت ډيره خفه يم او هيله منه يم چې دوی به انشاالله دين ته بيرته راګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما یادیږي چې په ۲۰۰۸ کال کې په یوه کشتۍ کې د اسراییلو لخوا د غزې محاصرې په مهال هلته تلم تر څو له حالاتو خبره سم چې یو کمره مین هم راسره وه نو مونږ هڅه وکړه چې په کشتۍ کې لمونځ ادا کړو ځکه چې هلته نږدې د اودریدو ځای نه وه خو الحمدلله لمونځ مو په کشتۍ کې وکړ دا خو د اسلام دین دې چې مسلمانان په کشتۍ کې هم لمونځ کولای سي.

نو ددې حالت نه وروسته یو سیکولر(بې دینه) راغي او ماته یې وویيل چه ایا لمونځ او کشتۍ به دې له اسراییلو وژغوري نو ما ورته وویيل وروره الله(ج) به مې ساتي. له دې وروسته غزې ته ورنږدې شو چې هلته مو د اسراییلو کشتۍ له وسلې ډکې او مجهزې ولیدې، ددې په لیدو سره مونږ وویریدو چې دوی خو مونږ چې هر وخت وغواړي وژلې سي خو بیا مې له ځان سره وویل که دوی مې ووژني نو ښه ده ځکه چې جنت ته به مې ولیږي (یعني جنت ته به لاړه شم) بیرته مې مسکا په شونډو راغله او خوشاله سوم.

خو هغه سیکولر چې هلته وو له ویرې لړزیده بیا ما له ځان سره وویل چې څوک د الله رسۍ پرېږدي ددې سیکولر په څیر به یې حالت وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه خبره دا وه چې مونږ له ټولو نه مخکښې غزې ته ورسیدو. په غزې کې له اوسیدو وروسته کوم کار چې زما خوښ سو هغه دا وه چې الحمدلله دغزې اوسیدونکو د الله(ج) رسۍ کلکه نیولې وه او د کلک ایمان څښتنان وه ځکه هره پیښه ورسره پیښیده او یا هر څه پرې غورځیدل دوۍ هیڅ ویره نه درلوده.

سوال: ایا رښتیا هم په مسلمانو میرمنو او مساجدو د نژاد پرستانو او نیشلیستانو لخوا حملې کیږي؟

ځواب: هو، خویندې او مساجد رښتیا هم په نښه کیږي او حملې پرې کیږي زه نه پوهیږم چې دغه خلک ولې داسې کوي، عجیبه دا وه چې یو څه موده وړاندې همدغه نژاد پرستانو د یو مسجد شاته لاریون شروع کړې وه او غوښتل یې چې مسجد ته زیان ورسوي، نو مسلمانانو هغوۍ چاۍ ته راوغوښتل او په ګډه یې ورسره چاۍ وڅښلو او بیا یې ورسره د فوټبال لوبه وکړه- ځومره عجیبه خلک او څومره د لوۍ حوصلې خاوندان دي مسلمانان، زه پدې هم پوهیږم چې افغانان له دې نه هم زیات میلمه پاله دي خو خارجیان چې هلته دي پدې نه پوهیږي چې له ځان نه یې دیوالونه تاو کړي، دهمدې په څیر غلطې هم کړې وه ځکه چې د طالبانو سره د بند په وخت کې ما د ډوډوۍ نه خوراک هرتال کړې وه چې پرې وروسته پښیمانه وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال: تاسې د بې دينو (سيکولريستانو) په هکله مالومات ورکړل، ايا دوی رښتيا هم د مسلمانانو دښمنان دي؟

ځواب: هغوی صرف د اسلام دښمنان ندي بلکه د ټولو اديانو دښمنان دي او هغوی له دين نه کرکه کوي او ځکه په دين حمله کوي، په مسلمانانو يې د حملې کچې ځکه زياتې دي چې مسلمانان په ډاګه ښکاري لکه مسلمانانې ميرمنې چې د حجاب سره ښکاري نو حملې پرې کيږي. سيکولريستان خپله هم نا ارامه دي ځکه دوی د هيڅ اصولو او قوانينو تابع ندي، که مونږ ټول اديان وګورو نو ټولو يو څه اصول وړاندې کړي له کومو سره چې سيکولريستان مشکل لري. که مونږ تاريخ ته وګورو نو پدې به پوه شو چې د دين له راتلو څخه وړاندې څومره جهالت او ظلمونه وه حتی تر دی چې ښځې به ژوندې خښيدې. او که بل اړخ ته وګورو په غربي ټولنو کې هم بعضې قوانين ديني اړخ لري لکه دغل سره تعامل، نو اوس پوښتنه دا پيدا کيږي چې دوی يعني سيکولريستان کوم ډول قوانين غواړي نو دوی به وارخطا سي.

سوال: د اسلام لپاره د کار کولو ښې لارې چارې کومې دي؟

ځواب: ځما په اند ښه لاره به دا وي چې له ځانه نه شروع وکړو او بيا خپله کورنۍ اصلاح سي چې همدغه به معاشرې او ملګرو ته انتقال سي، د ټولو نه خو ښې لارې چارې قران کريم وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي او مونږ ته ښه نمونه محمد(ص) وه او د خویندو لپاره ښه نمونه خدیجه کبرې(رض) ده که مسلمانان دوی تعقیب کړي نو بیرته به خپل تیر برم ترلاسته کړي او زمونږ دښمنان به هیڅ ونشي کولای ځکه چې مونږ به اساسي کار کړې وي.

سوال: اسلامي امت ته مو پیغام څه دې؟

ځواب: زما پیغام دا دې چې مونږ مسلمانان د نړۍ تر ټولو ښه فامیل برخه یو کله چې مونږ متفق او یو ځای یو نو مونږ به ډیر پیاوړي یو، مونږ باید په الله(ج) یقین ولرو او له هماغه(ج) څخه وویریږو او د الله(ج) رسۍ کلکه ونیسو نو خپل مقام به بیرته ترلاسه کړو.

سوال: له اصلاح راډیو څخه مو افغانانو ته پیغام څه دې؟

ځواب: د هغو ټولو نه مننه چې زما قیصې ته یې غوږ نیولې وه، زه له ټولو افغانانو سره ډیره مینه لرم، افغانانو هیڅکله ځانونه مه بدلوئ زه پوهیږم چې تاسې ډیر پیاوړي یا ست، تاسې سره د نړۍ د ټولو مسلمانانو مرسته او دعاء ګانې دي او ټول غواړي چې خپلواک او ښه ژوند ولرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوزه ډیره خوښه سوم کله چې تاسې راته ددې راديو باره کې وویل ،دا د خوشالی ځای دې ځکه داسې وخت کې تاسې دومره نیک کار روان کړې، راډیو خلکو ته د پیغام ورکولو یو ښه وسیله ده. عقیده او یقین مو وساتی،پیاوړي اوسئ او د الله(ج) رسی کلکه ونسئ.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه


Quran ipashto

فتاوی الحقانية

زه ولی مسلمان سوم ؟

افغان بنسټ ویب سایټ

اصلاح انلاین ویب سایټ

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**